# دافغانستان اسلامي امارت
# د لوړوزده کړو وزارت
# هلمند پوهنتون
# اقتصاد پوهنځي

# د اقتصادي نظریاتو تاریخ

سمیستر: دریم

استاد: زلمي (ځلاند)

تحصیلي کال .....................................۱۴۰۲


بسم الله الرحمن الرحیم

# لومړي څپرکي

**د اقتصاد د علم پرمختګ او تکامل:**

- د اقتصادي نظرياتو د څېړني موضوع او ميتودونه
- د اقتصادي نظرياتو زده کړې ته اړتيا
- د اقتصاد د علم د پرمختګ دولونه

# د اقتصادي نظرياتو د څېړني موضوع او ميتودونه:

د اقتصادي نظرياتو تاريخ د اقتصاد په اړه د عامه معلوماتو وړاندي کونکي دي د اقتصادي نظرياتو ميتودلوژي د اقتصادي ارزونو د ميتودونو په مجموعه باندي اتکا لري . په دي ميتودونو کي تاريخي ،استقرايي ، منطقي تجريد او رياضيکي ماډل جوړونه ،عملياتي ،سيستماتيک او نور ميتودونه شامل دي .

د اقتصادي نظرياتو تاريخ له کليوالي نړي پيل تر ننه هڅي رواني دي چي د اقتصادي نظرونو د اقتصاد په تاريخ کي په سيستماتيک ډول تنظيم شي .

په اقتصاد کي په تخنيک او کلتور کي دوامداره بدلونونه به په اقتصادي نظرياتو کي هم نوي والي او زياتوالي رامنځته کړي .

## د اقتصادي نظریاتوزده کړي ته اړتیا:

اقتصادي نظریات ددي لپاره وایو چي موږ زده کړو چي کومي نظریي په اقتصاد کي کامیابه وي او کومي نظریي په اقتصاد کي ناکامي وي او چا چي اقتصاد په ارزښت کتلي دي د هغوي اقتصاد  ځنګه دي او چاچي په ارزښت ورته نه دي کتلي د هغوي اقتصاد ځنګه دي .

د اقتصادي نظریو د بدلونونو په تاریخ پوهیدل اقتصاد پوه ته د اقتصادي ستونزو د حل لاري او متبادلو تیوریکي روشونو د انتخاب په برخه کي توانایي وربښي.

یو مشهوره قول دي چي وایي د مړو کسانوغلط نظریات د ارزښت وړ ندي

نظریات باید د ټولنیزو شرایطو او بدلونونو په نظر کي نیولو سره وکارول شي . او د اقتصادي نظریاتو زده کړه د انساني ټولني ، اقتصاد او کلتور یو جوړونکي برخه ده.

# د اقتصاد د علم د پرمختګ ډولونه:

د اقتصاد د علم پرمختګ په دري ډولونو رامنځته شوي دي:

۱- تراکم یا تراکمي پرمختګ

۲- عوض یا تعویضي پرمختګ

۳- نواواري یا تکراریدونکي پرمختګ

اساسي موخه د نوموړي علم د پرمختګ او امکاناتو زیاتوالي او په نتیجه کې ددي فني او تخصصي پوهي رامنځته کیدل دي .

# ادامه...

۱- تراکم یا تراکمي پرمختګ:

ډیر ضروري او غیري ضروري موضوعات په اقتصاد پوري تړلي شوي دي چي د وخت په تیریدو سره بعضي بعضي موضوعات لیري کیږي  او هغه څه چي په اقتصاد کي ګتوري دي هغه ور اضافه کیږي  د علم تراکم په دوامداره او مسلسل ډول سره صورت نیسي نوي پیژندنه او پوهه ممکن د شته علومو د تکمیل کیدو او د عوض کیدو او یا هم د بي اعتباره کیدلو سبب وکرځي

# ادامه...

۲- عوض یا تعویضي پرمختګ :

بعضي موضوعات په اقتصاد کې عوض کیدونکي دي .

فرضي مثال :- په لومړي سر کې بارتر سیستم موجود وه هغه عوض سو او پر ځای يې پيسي راغلي نو دلته د یو شي ځای بل شي ونیوي دي ته عوض وایي.

که چیرته پرمختګ په دې ډول جریان پیداکړي چې د نوو پیژندنو په اثر پخواني پیژندني له صحنې څخه وایستل شي او پر ځای یې نوي پیژندني زیاتي شي او متناظر حالت اختیار کړي چې رامنځته سوي پرمختګ د عوض کیدونکي پرمختک په معني دي.

## ادامه...

۳- نواواري یا تکراریدونکي پرمختګ :

ځیني شیان په اقتصاد کي شته چي د اقتصادي پرمختګ مخه یي نیولې ده

ښه مثال یي : په چین کي د ریل پټلي ته اجازه نه ورکول وو په دي خاطر چي د دوي د مذهب سره په ټکر کي وه ، بلاخیره د ریل پټلي ځاي کښتي ونیوي او د کښتیو ځاي یي هوايي دهلیزونو ونیوي چي دي ته نواواري وایي .او زموږ د کامیابي ګراف هغه وخت لوړیږي کوم وخت چي نواواري رامنځته شي .

## د اقتصاد د علم دوره اي پرمختګ:

مونږ ته دا راښايي چي په اقتصادي ريښتيني نړي او عيني محيط کي د متغيرو شرايطو په اثر څرنګه د اقتصاد پوهانو کوښښونه او دهغوي علمي څيړني د يو بل ځاي نيسي او يا پخواني نظريات باثمره ګرزوي او پرختيا ورکوي.

مثال لکه په چين کي٪ ۸۰ خلک د غربت له کچي لوړ وو او پاتي ٪۲۰ خلک يي د غربت په کچه کي وو دوي خپل تيرو نظرياتو ته په کتو سره بعضي نظرونه ليري کړل کوم چي بي ګټي وو او بعضي نظريات يي عوض کړل او نواواري يي رامنځته کړل بلاخيره دوي وکولاي شول چي د هغه کسانو فيصدي چي د غربت په کچه کي وو هغه يي ۲ ٪ ته راټيټه کړل.

لامل يي د اقتصادي نظرياتو اصلاح ،سمون او نواواري وه.

د ښځې برکي پای.

# دوهم څپرکي

**داقتصادمخکښان (مخکي له میلاد نه):**

- پیلیزه
- کلیوالي یونان
- ګزنفون
- افلاطون
- ارسطو
- دکلیسامشران اوروحانیون
- دمسیحت مشران
- دمدرسي طالبان
- توماس اکینو
- یوهانس بوریدانوس
- انتونین فلورانس

# پیلیزه:

پیلیزه: تر-۱۶-پیړي پوري اقتصاد دیو علم په توګه شتون نه درلود ترهغه وخته اقتصادي مسایل دفلسفي،اخلاقو،اومذهبي قوانینو په چوکات کي دنورو ټولنیزو مسایلو سره یو ځاي په نظر کي نیول کیدل .
داقتصادي ژوند ټول مسایل دمذهبي او اخلاقي معیارونو په رڼا کي تر سره کیدل .

# کلیوال یونان:

ولي ددي کورس پیل دپخواني یونان څخه کوه ؟

آیا تر دي دمخه په ټولنه کي اقتصادي نظرونه نه وه؟

څرنګه چي اقتصادي مسایل له نورو علوموسره ګډ وه نوځکه یي مشخص ځاي معلوم نه دي.

داچي مونږ دغه کورس ته دیونان نوم ورکوه اود هغه قدرداني کوه لامل یي دادي چي باید دهغه چانوم ورکړو کوم چاچي دغه علم ته نوم ورکړي دي ،چي لغوي معنا یي دکور اداره تنظیم اوتدبیر دي .

او اول ځل پکي دکرني دپرمخ بیولو قوانین خیړل شوي دي ،چي پردي سربیره دسپما،ګټورو تعمیرونو او د غلامانو سره دښه سلوک په اړه خبري شوي دي .

# ادامه...

اقتصادي عقاید یوازي دمعلوماتو راټولونه نده ،بلکي معلومات اقتصادي ارزوني ته اړتیا لري . دلومړي ځل لپاره داقتصادي پیښو اودټولني دپرمختګ لاملونه داروزوني عمل دپخواني یوناني ستر مفکر ارسطو لخوا وشو،نوپه همدي خاطر نومووړي لومړني اقتصادپوه ګڼلي شو.

ټول علوم چي څیړل کیږي هرومرو سرچینه یي دپخواني یونان فلسفي پوري نښتي وي ،ځکه چي یونان لومړني ځمکه وه چي هلته دطبیعت له مخي پوړوني ایسته شوي دي .

اوهلته داقتصاد مفهوم هم دسیاست د علم په څیر په اخلاقي ساحه کي موندلاي شو.

پدي وختونو کي اقتصادي ژوند له ټولنیزو مسایلو او واقیعتونو سره تړلي ګڼل کیده ټولنیز او اخلاقي مسایل په اقتصادي ژوندانه پوري مربوط وه ،چي دحل لاري یي ورته په اخلاقو لټولي .

# ګزنفون( Xenophon) (۴۳۰-۳۵۴ ق.م)

دیونان د لیکوالانو څخه یويي هم ګزنفون دي چي داقتصادي مسایلو سره يي اړیکه درلوده نوموړي دارسطو او افلاطون خلاف د اقتصادي ژوندانه په فلسفي مشغول وه.

او دوه اثرونه يي د یادولو وړ دي .

۱-اقتصاد

۲-داتن دولت عواید

اود بزګرانو په نابرابري يي لیکنه کړي چي باید بزګران هلته مالونه خرڅ کړي چیري چي يي کمبود احساسیږي . اود اتن ددولت دعوایدو اړوند هغه اقتصادي نظریات روښانه کوي چي د فرد پرځاي باید ټولني ته ترجیع ورکړل شي، او نوموړي داتن دولت اقتصادي سرچینه په ګوته کړه : لکه کرنه،دماهیانو ښکارکول، دکښتیو چلول، اودمعدنونو ایستل چي مرمرو اونقري يي ځانګړي ارزښت درلودي .

## ادامه...

او دوخت په تیریدو او له څیړونو وروسته دې نتیجې ته ورسیدې چې ددولت په عوایدو کې په دې شرط زیاتوالي راویستلې شو چې حکومت ښارونه، سوداګري، کښتیو چلولو او بهرنیو سوداګرو جذب ته پاملرنه وکړي اوهغوي تشویق کړي.

اوپه اقتصادي نوساناتو باندې یې هم نظریه ورکړې ده چې یوله هغو څخه جنګ دې چې ښاریان له پانګې اچونې څخه لیرې کوي .

او نوموړې وویل چې دضعف په وخت کې ددولت کړنې زیاتیږي اوهغه کارونه په لاس کې اخلي چې دخصوصي سکتور دمدیرانو په لاس کې دي .

# ادامه...

او نوموړي پدي باندي ټينګار کوي چي بايد اقتصادي توانايي ددولت په واک کي وي .

او دکارونو په شراکت باندي يي هم تاکيد کړي دي او نوموړي سهامي نظريه لومړي وړاندي کړه.

نوموړي داستهلاک څخه هم يادونه کړي ده د ثروت دترلاسه کولو غوره او ښه لاره کارکول ګڼي .

د ګزنفون په نظر ماليات ددولت دتوانايي لپاره يو اساسي عامل دي اوپه راتولولو کي يي دعدالت غوښتنه کوي .

ګزنفون دآزادي سوداګري طرفدار وه دګزنفون نظريه دفزيوکراتانو داقتصادي فلسفي يو لوي او اصلي بنسټ وګرځيدي.

ترده مخکي هم نظرونه موجود وه خو اجتماعي او سياسي وه.

# افلاطون(Plato) ۳۴۸-۴۲۸ ق.م

افلاطون دیونان یو نامتو فیلیسوف وه لومړني کس وه چي تیوري اوعمل یي سره جلا کړل. مهم آثار یي ددولت سیاست پوه قوانین ترعنوان لاندي لیکل شوي دي . اودعدالت رامنځته کیدل د ټولو وظیفه کڼي،اود نوموړي په نظر فردطلبانه کوششونه باید د قوانینو په مرسته خنثي اومهار کړل شي.
دکار ویش دافلاطون داقتصادي نظرونو عمده برخه جوړوي ،چي پدي توګه سره ښاري نظم رامنځته کیږي

## ادامه...

د افلاطون په فکر انسان ټولنیز موجود دي باید هغه کار وکړي په کوم کارکي چي وړتیا ولري چي پدي سره به یو ښه تولید په خپل وخت،ښه کیفیت، اوپه زیاته اندازه سره صورت ونیسي.

افلاطون وویل : ټول هغه اشخاص چي له کار کولو څخه پرته ګټه ترلاسه کوي دي د هغوي په ضد خبري کوي. اود هغه په نظر دعاید اصلي منبع کرنه ده.

اود قیمت په اړه یي هم یادونه کړي ده، دده په اند که دولت قیمتونه وټاکي د ټولني لپاره به موثر وي . افلاطون دموجودي نړي څخه دیو داسي نړي غوښتونکي وه چیري چي عدالت قایم وي اوبي عدالتي پکي ځاي ونلري .

اودده په نظر کله چي ملکیت شخصي نه وي نو خلګ دټولو لپاره کار کوي چي پدي توګه دشراکت د نظریي وړاندي کوونکي وه،افلاطون په -۳۷۴-ق.م کال کي په ناڅاپي مرګ باندي مړ شو.

او دافلاطون اکاډومي تر ۸۰۰ کاله پوري پرانیستي وه اوپه پاي کي دروم دامپراتور لخوا وتړل شوه.

# ارسطو – Aristotle ۳۸۴-۳۲۲ ق.م

ارسطو د افلاطون شاګرد او د یونان یونامتو فیلیسوف وه،دخپل وخت پیژندل شوي عالم وه چي زیات نظریات یي ترنن پوري د پوهانو له لاري د رڼا په توګه رول لوبوي .

د ارسطو اقتصادي عقاید دکورني پرصحیح اداري او تنظیم باندي تکیه کوي.

نوموړي کورني طبیعي امر بولي او ددولت دجوړیدو په تاریخي سیر کي یي لومړني خښته کڼي.

# ادامه...

په نظري اقتصاد کي د ارسطو دوه اثرونه دیادولو وړدي یويي سیاست اوبل د نیکوماخوس اخلاق په نامه دي.

نوموړي د سوداګري په اړه وايي: سوداګري د تبادلي پیچلي مرحله ده ځکه په سوداګري کي باید له پیسو څخه ګټه واخیستل شي ، د ارسطو په اند پیسي داخدمت ترسره کوي چي په تبادله کي اسانتیا راولي .

پیسي د نورو توکو لپاره دارزښت معیار ګڼل کیږي خو خپله ذاتي ارزښت نلري،چي له همدغه ځایه د سود د منع کولو لومړني نظریه مطرحه شوه.

د نوموړي په اند پیسي مړ وجود دي اومړ وجود خپل مثل نه تولیدوي .

نوموړي په عادلانه سوداګري باندي ټینګارکاوه.

او د نوموړي یوه نظریه چي تر اوسه هم د توجیه وړ ده ،د توکو د تبادلي نسبت دڅه شي په واسطه معلومیږي؟

چي جواب یي دتوکو ترمنځ برابروالي او دپیسو په مرسته صورت نیسي او پیسي دټولو غوښتنو لپاره عامي ګڼل کیږي .

دنوموړي په عقیده حقیقي ثروت دخلګو له اړتیاوو څخه عبارت دي که شیانو ته اړتیا اضافه شي یا مصرف ونلري ثروت ندي نوموړي دټولني موخه ثروت ګڼي.

# ادامه...

بلکي ثروت د ټولني دارامي اوسهولت لپاره يوه وسيله بولي ،نوموړي ثروت په دوه برخو طبيعي اوغيري طبيعي باندي ويشي .

د ارزښت په باره کي ارسطو وويل چي هر شي دوه ډوله ګټه لري لکه اصلي ګټه اوفرعي ګټه.

ارسطو سوداګري په پيسو باندي بده ګڼي او د جنس په جنس سوداګري پلوي کوي ،اوله بلي خوا پيسي په ټولنه کي مهمي ګڼي او دپيسو څلور مهمي وظيفي يي يادي کړي.

۱-د تبادلي وسيله ده

۲-د پيسو په وسيله ثروت ذخيره کيدلاي شي

۳-پيسي دارزښت معيار دي

۴-پيسي راتلونکي پورونه هم تاديه کوي.

ارسطو عقيده درلوده چي پيسي بايد له ثروت سره ګډي نشي ځکه چي پيسي ثروت دي مګر ثروت پيسي ندي .

چي په اوس وخت کي دغه نظريه دفلزي پيسو سره سمون لري.

# دکلیسامشران اوروحانیون:

د پخوانیو او منځنیو پېړیو په وخت کي مشهور لیکوونکي د کلیسا مشران او روحانیون وه،د کلیسا مشران د مسیحت پیروان وه او ټولي لیکني یي د مسیحت مطابق وي.

د هغوي مهم نظرونه دخیر او شر، شه اوبد، دانسانانو روش، اوداړیکو څرنګوالي دي.

دوي خپل احکام دانجیل کتاب مطابق ټاکل، عمده اقتصادي مسایل چي ددوي په لیکنو کي ترسترګو کیږي د سود منع کول دي ،له حد څخه دزیاتي ګټي مخه نیول، ددولت لخوا دقیمتونو دشرایطو ټاکل ، دپورونو اړوند اړین مسایل ، دغلامانو حقوق اونور..

چي ټول یي دانجیل د محتویاتو څخه سرچینه اخلي چي دوي دعدالت غوښتونکي وه.

دکار په اړه دیونان د لیکولانو سره توپیر لري ،د دوي پاپ وایي : مسیحي مومنان کارکول باید خپله ټولنیزه دنده وګڼي.

دده په نظر هر فرد باید کار وکړي ترڅو په نورو باندي بارنشي او ددي جوګه شي چي داړتیاوو لرونکو سره مرسته وکړي.

# دمدرسي طالبان(Die Schoolastik)

د غربي روم امپراتوري په وخت کي اقتصادي معاملاتو پرمختګ وکړ اود روم داوسیدونکو ترمنځ جنس په جنس تبادله برقراره شوه.

کله چي نوي ښارونه رامنځته شوه نو سوداګري زيات اهميت پيداکړ اوښه پرمختګ يي وکړ.

دلومړنيو منځنيو پېړيو اقتصادي انديشني ددوه مسلو په اړه وي .

۱-عادلانه قيمت

۲-د سود منع کول

چي ددي نظر سرچينه دکليسا مشران په خاصه توګه ارسطو وه .

عادلانه قيمت موضوع له ډيره وخته دبحران اقتصادي اړتياوو اودتنګلاسي حالتونوکي دټولني عمومي اوسياسي غوښتونکي په توګه مطرحه کيدل.

چي قيمت بايد يوازي دتبادلي درامنځته کيدلو په موخه ونه ټاکل شي بلکي دټولنيز، اخلاقي بعدلرونکي اوعادلانه واوسي اوله تقاضاڅخه مستقل وي.

اوبله نظريه دسود منع کول وه کله چي دمسيحت لخوا سود منع شوه پدي وخت کي په ايټاليا کي پولي اقتصاد دودي په حالت کي وه چي له بله طرفه دنياوي طرفدارانو دخپلي ګټي لخوا استعمالوه.

# توماس اکینو(Thomas von Aquino) ۱۲۲۵-۱۲۷۴

دمنځنيو پيړيو يو برجسته روحاني شخصيت وه چي دکاتوليک په کليسا کي يي زيات نفوذ درلودي .

دتوماس اکينو تعليمات اواخلاقي فلسفه دالهي قوانينو،طبيعي قوانينو دخلګو او دولتونو ترمنځ په توپير باندي متکي وه.

توماس سوداګري محکموي خوترهغه وخته کوم چي دغريبو اشخاصو په زيان سره نه وي

توماس دوه ډوله عدالت غوښتونکي وه.

# ادامه...

۱-توزیع کوونکي عدالت

۲-بدلون ورکوونکي عدالت

نوموړي دداسي یوواحدپه لټه کي وه چي په مرسته یي دتوکو دارزښتونو داندازه ګیري مسله حل شي.

دامعیاردنوموړي لخوا دپیسو په توګه طرحه او اراییه کیږي.

توماس ددولت لخوا دمزد ټاکلو مسله هم بررسي کوي.

دمنځنیو پیړیو دمنطق اوتفکر له مخي دتوماس نظر پدي باندي اتکا کوي چي دمزد لپاره دلوړ حد ټاکلو لپاره عمده رول دکارکوونکي دکار کیفیت اوپه ټولنه کي دهغه موقیعت دي ،ځکه چي ټولنیز موقف دمعلوم عاید ټاکوونکي دي .

دنوموړي په اند مزد هغه وخت عادلانه دي چي دکارکوونکي دټولنیز موقف سره متناسب واوسي

# يوهانس بوريدانوس(Johannes Buridanus)

نوموړي دپيسو په پيژندلو او دهغي په اساس باندي بحث کوي،چي پدغه وخت کي پولي اقتصاد دپام وړپرمختګ کړي وه.

اودتبادلي اوتګ راتګ په برخه کي دروم ارتباطي پيګونه زيات شوي وه او زيات اهميت يي پيداکړي وه.

نوموړي دپيسو اهميت له دوه اړخه څيړي.

١-له فلزي اړخه

٢-دخريد او توان له اړخه

دده په نظرعدالت هغه وخت شتون لري چي دتبادلي دواړه اړخونه وکولاي شي خپل توکي په هغه څه چي ده ته اړين څرګنديږي بدل کړي .

نوموړي دنظري اقتصاد دلومړني اساساتو د بنسټګر په توګه پيژندلاي شوه.

# انتونین فلورانس ۱۴۸۹-۱۳۸۹ ق.م

نوموړي داقتصادي موضوع پیژندلو باندي پیل کوي ،نوموړي خپل ځان دمدرسي طالبانو ته وفاداره ګڼي اودخپل عصر اقتصادي پرمختګ ته په کتو سره دسن توماس له نظریاتو مخالفت نشي کولاي .

دده دبحث موضوع داقتصادي حقایقو اوپیښو څخه دیو عادلانه قیمت مسله وه.

دقیمت په اړه دهغه له نظریاتوڅخه ښکاري چي ددولت لخواټاکل شوي قیمتونه او دآزاد تشکیل سویو قیمتونو ترمنځ اړیکه بررسي کړي.

نوموړي دتوکو داستعمال دارزښت ټاکلو لپاره دري دلیلونه ذکرکوي.

۱-حداقل قیمت

۲-متوسط قیمت

۳-دمطلوبیت په اساس

نوموړي دنغده معاملاتو ګټورتیا تاییدوي ،اونوموړي دپانګي په هکله هم مطالعاتو ته پراختیاورکړه.

او دپانګي اچوني لپاره لازم سود عادلانه ګڼي،خو دپیسو په توګه پوراخیستلوکې سود ردوي.

د ځېرکي پاي.

# دریم څپرکي

## اقتصاد داسلام په رڼا کي:

- د اسلامي اقتصاد معني او تعریف
- د اسلامي اقتصاد سرچینې
- تجارت
- صنعت او کسب
- د ثروت د جمع واري منع کول
- د اسلام اقتصادي سیستم
- د اسلام اقتصادي نظام خصوصیات
- د اسلامي اقتصادي نظام ښیګڼې
- د اسلامي اقتصادي نظام پر وړاندي خنډونه
- د ابن خلدون ژوند
- د ابن خلدون لیکلي اثار
- د ابن خلدون اقتصادي نظریات

ستاسو په نظر په اسلام کې د اقتصاد معني او تعریف
څه ډول دي؟

## د اسلامي اقتصاد معني او تعریف:

۱:- د اقتصاد کلمه په عربي ژبه کې په ۵ معني وو راغلې ده، د منځومتیا غوره کول، له لنډوالي او زیات طوالت ځخه ډډه کول، زیرمه کول، اعتدال، آسانتیا او سمون.

په قرآنکریم کې اقتصاد د میانه روي په معني راغلي دي، د لقمان په مبارک سورت کې راغلي دي: ژباړه: په تګ کې میانه روي اوسه.

۲:- **اصطلاحي تعریف:** اقتصاد له هغه نظام ځخه عبارت دي چې د قرآن او نبوي سنتو او د فقهاوو په اجتهادي بنسټونو بنا کړای شوي وي، چې په هره زمانه او چاپیریال کې پلې کیدلای شي.

## ادامه...

**موضوع:** د اقتصاد موضوع شتمني او دولت هغه وسایل دي چې دولت شتمني ورځخه ترلاسه کولای شي د مشروعیت او نه مشروعیت له نظره.

**غرض:** د اسلامي اقتصادي نظام موخه او هدف په اسلامي امت کې د اجتماعي عدالت پلي کول، په ټولنه کې په شرعي توګه د دولت تقسیم او شرعي قوانینو سره سم د اقتصاد پیاوړي کول او د غربت خاتمه او په اسلامي امت کې د غیر اسلامي اقتصادي نظامونو انسداد او مخنیوي دي.

ستاسو په نظر د اسلامي اقتصاد سرچينې کومي دي؟

# د اسلامي اقتصاد سرچينې:

د اسلامي اقتصاد نظام سرچينې قرآنکريم او نبوي مبارک حديث دي، دا مبارک ارشادات په هرځاي او هر وخت کې د منلو او پلي کيدول وړ دي، ټول عمر ثابت او نه بدليدونکي دي، په قرآنکريم کې مهمو اقتصادي پيښو ته لکه: کيفيت لرونکي او مطلوب مصرف، د شتمنيو را غونډيدل، دنيا او دنيوي ثمره لرونکي فعاليتونه، ممکنه اعظمي توليد، د عوايدو عادلانه ويش، د اصراف مخنيوي او سپما، په حق او عدالت متکي اقتصادي اړيکې، د استثمار د ټولو ډولو مخنيوي ته اشاره شويده.

## ادامه...

**الف: معقول مصرف:** د اسلام له نظره مصرف باید د افراط او تفریط ترمنځ وي، باید د الله ج په لاره کې خیرات او صدقه وشي

د اسلام په رڼا کې اصراف درې شیانو ته ویل کیږي:

اول: په ناجایزه کارونو کې د پیسو مصرف کول که یوه روپۍ هم وي.

دوهم: په جایزو کارونو کې د مصرف په وخت کې له حده زیاتوالي کول.

دریم: د نیکۍ په کارونو کې د الله ج د رضا لپاره نه بلکه د ریا او نمایش لپاره مصرف کول.

بخل: د اسلام په رڼا کې بخل په دوه شیانو کې راځي:

اول: د خپلو اړتیاوو او اولادونو د اړتیاوو په رفع کولو کې د خپل توان او حیثیت مطابق مصرف نه کول.

دوهم: د نیکۍ په کارونو کې مصرف نه کول.

# ادامه...

**ب: مثبت اقتصادي توان:** په اسلام کې اقتصادي پیاوړتیا زیاته مهمه ده

**ج: مرسته او صله رحمي:** په قرآنکریم کې د بې وزلو سره په مرسته باندې تآکید شوي او مالداره خلک د بیوزلو خلکو سره په مرسته کولو مکلف شویدي.

د مال خاوندان د نورو په مقابل کې مسؤلیت لرونکي دي.

**د: کوشش او کار:** اغیزمن او فعال کار سره مال او عوایدو ته لاسرسی پیداکول د الله ج فضل شمیرل کیږي، هر کار او کوشش باید حلال او د اسلامي شعائرو سره سم وي، په اسلام کې د حرامو شیانو تولید، خرڅلاو، اخیستل، ساتل او استعمالول ټول منع دي

# ادامه...

**ه: تکنالوژيکي پرمختګ:** په قرانکريم کې د اقتصادي توليد زياتولو او د انسانانو په ژوند کې د اسانتياوو راوستلو په خاطر د هر ډول تکنالوژي ترلاسه کولو او کارولو سپارښتنه کيږي، لکه چې د داؤد ع په اړه الله ج فرمايي: ژباړه: په تحقيق سره داوود عليه السلام ته زما له لوري فضل ورکړل شو، اې غرونو او مرغانو د هغه تسبيح ووايااست او اوسپنه مو ورته نرمه کړه، چې جوړه يې کړه کشاده زغرې او اندازه ساته په جوړولو کې او عمل کوه نيک بيشکه تاسو ګورم چې څه کوئ.

**و: قرآن او منطقي حسابداري:** له زياتو آيتونو څخه څرګنديږي چې په قرآنکريم کې د انسانانو ترمنځ د منطقي او موخيزو اصولو لاندې د اقتصادي او سوداګريزو اړيکو د تنظيم غوښتنه کيږي، د وعدې په ځاي منطقي اسنادو باندې متکي سوداګري غوره ګڼل کيږي،

## ادامه...

**ز: قرآن او اقتصادي عدالت:** په اقتصادي ژوند کې د عدالت تآمينول زيات اړين دي، د عدالت په مخ کې خنډونه جلا جهتونه لري: ملت پالنه، طبقه او نژاد پرستي، جنسيت پالنه، ايدیالوژي او مذهب پالنه داټول د رښتيني عدالت لپاره خنډونه جوړوي.

**س: د بهرې نرخ پاليسي:** په بازار کې د دوران کوونکي پيسو شمير په کميدو سره د هغې ارزښت لوړيږي او له بل لوري د بهرې نرخ په هماغه اندازه لوړيږي، دا د پور ورکوونکو لپاره مناسب چاپيريال دي، اسلامي اقتصاد په خپل چاپيريال کې د پيسو اندازه په تناسب کې ساتي ترڅو نورهم د بهرې د لوړيدو څخه وژغوري چې د سود ورکوونکو لپاره چاپيريال تنګ شي.

**ط: سود د اسلام په رڼا کې:** د قرآن عظيم الشان په رڼا کې سود منفي او غير اخلاقي عمل دي او مسلمانانو ته هدايت کيږي چې ځان ترې وساتي

# تجارت:

تجارت عربي کلمه ده چې د لغت په لحاظ په ۵ معني وو راغلې ده: ۱ د مهارت په معني؛ ۲ د رواج او دود په معني؛ ۳ د ځیرکتیا په معني؛ ۴ د تصرف په معني؛ ۵ د دولت د لګښت په معني په دې اراده چې ګټه پکې وکړي.

په اسلام کې د تجارت مشروعیت په قرآنکریم اونبوي احادیثو سره ثابت دي.

د حضرت عمر رض له نظره څوک چې سوداګري کوي باید مخکې د اسلام په اصولو خبر وي.

## صنعت او کسب:

صنعت او کسب په اسلام کې د دولت ګټلو غوره وسیله ده، رسول الله ص فرمایلي دي: هیڅ شخص غوره طعام خوړلي ندي له هغه چا څخه چې د خپل لاس له کسب څخه یې خوري او د الله ج نبي داوود ع د خپل لاس له کسب څخه روزي خوړله.

# د ثروت د جمع واري منع كول:

اسلام په څو لاسونو كي د ټولني د دولت راغونډېدل منع كړي دي.

اسلام د اساسي اقتصادي اصولو د عملي كولو په موخه ځيني اقدامات كړي دي:

- سود حرام ګڼل شوي دي
- زكات فرض كړل شوي دي
- د غنيمت د مالونو څخه د خمس د جلا كولو حكم سوي دي
- نفلي صدقاتو او خيراتونو باندي تاقيد شوي دي
- د مختلفو كفارو داسي تجويز شوي دي چي په ټولنه كي د غريبو لوري ته د دولت د جريان لامل ګرځي
- بخل اخلاقي بد والي ګڼل شوي دي
- مالدارو ته خبر وركوي چي د هغوي په مالونو كي د بي وزلو، خلكو حق دي او د هغي ادا كول د خيرات په توګه نه بلكي د هغوي د حق په توګه لازم دي

# د اسلام اقتصادي سيستم:

اسلام د ژوندانه يو مکمل نظام دي چي مسلمانانو ته د ژوندانه موخي او د هغي لاسته راوړلو طريقي روښانه کوي له هر ډول نيمګړتياوو څخه د اسلام د سپيڅلتوب وجه داده چي د اسلام سپيڅلي قوانين خپله د الله ج لخوا ټاکل شوي دي .

په قران عظيم الشان کي مسلمانانو ته هدايت شوي چي په مکمله توګه د اسلام پابند اوسي..

# صنفي فعالیت:

د اسلام د اقتصادي نظام د خصوصیاتو په اړه څومره پوهیږي؟

# د اسلام اقتصادي نظام خصوصیات:

**الف) دحلالو او حرامو فرق کول :** د اسلام اساسي حکم په حلاله طریقه سره د دولت پیداکول او په حلالو کارونو کي د هغي استعمال دي اسلام پر اقتصادي فعالیتونو ځیني تلپاتي بندیزونه لګولي دي چي هغوي په هر ځاي او وخت کي د بدلون وړندي او باید پلي سي ،لکه :سود ،جواري، انحصار، احتکار او نور ...

د دولت د مصرف په برخه کي داسي هدایت دي چي په پاکو او جایزو اړتیاوو باندي د لګښت ځخه زیات شوي مال د الله ج په لار کي ولګوي او د کار وبار(تجارت)نغدو پیسو او حیواناتو ځخه باید هر کال زکات ورکړل شئ.

په ناروا طریقو سره د مال لاسته راوړل اسلام منعه کړي دي .

# ادامه...

**ب) د شخصي ملکيت حق :** اسلام مسلمانان ته د شخصي ملکيت حق ورکړي دي او د هغوي په مال کي يي د ټولنيز سهولت او ښه والي په خاطر د غريبانو، مسافرو، همسايه ګانو، دوستانو او خپلوانو حق واجب ګرځولي دي.

**ج) د رزق د وسايلو پيدايښت :** په دنيا کي درزق ټولي وسيلي لکه ځمکه، بارانونه، لمر، سيندونه، اوبه او هوا، معدنونه، ځنګلونه اونور الله ج پيداکړي دي . د دي ټولو وسايلو څخه انسانان يو ډول ګټه اخيستلاي شي.

**د)فطري غيري مساوات :**په رزق، دولت او عوايدوکي برابر والي يوغيري فطري امر دي .

# ادامه...

**ه)د دولت د مصرف کولو اصول** :اسلام د دولت د مصرف کولو په برخه کې په لاندې ډول لارښوونه کوي .

په ساده ګۍ ،پاکۍ او پر هیز ګارۍ سره ژوند تیر ول .

په جایزو اړتیاوو باندې لګښت کول.

د بخل، پیسو او زر جمع کول او پرستش څخه منع کول.

له اړتیا زیات لګښت او اصراف څخه ډډه کول.

**و) د دولت د تمرکز ممانعت:**- اسلام په څو لاسونو کې د مال جمع کیدل منع کړې دي، ځکه چې په دې سره اقتصادي، اخلاقي،اجتماعي، او سیاسي ستونزې را ولاړیږي.

**ز) د اړتیا لرروونکو لپاره سهولت:** د اسلام اقتصادي نظام کې د پانګوال نظام په خیر د د کار محرکه قوه یواځې د ګټې تر لاسه کول نه دي،بلکې په اسلام کې د کسب او کار خاوندانو په مال کې د ټولنې د غریبو او اړمندو کسانو حق دی، چې د زکات، خیرات... په شکلونو سره ادا کیږي.

# د اسلامي اقتصادي نظام ښیګڼې:

د اسلام د سپیڅلي دي اقتصادي نظام ددغه دین د نورو نظامونو په څیر داسي ښیګڼي لري، چي له نورو اقتصادي نظامونو څخه یي ممتاز کړي دي، د بیلګي په توګه:

**سماوي قوانین دي:** د اسلامي اقتصادي نظام اصول، قوانین، او برنامه یي د کایناتو د خالق له لوري دي.

**ابدیت:** د اسلام اقتصادي نظام تلپآتي نظام دي، دغه نظام زړښت نلري، په هره زمانه کي د تطبیق او پلي کیدلو جوګه دي.

**عمومیت:** د اسلام اقتصادي نظام د ټول بشریت لپاره دي، ځکه چي ددغه نظام برنامه، کړنلاره او کړنچاره د بشري نړي د کوم خاص ملت، کومي خاصي سیمي، یا د کوم خصوصي شرایطو او غوښتنو پر بنا منځته راغلي نه دي.

# ادامه...

**اجتماعي کفالت:** د اسلام اقتصادي نظام د ټولني د هر و ګړي د ژوند د اقتصادي اړخ ذمه واره دي، او د خپل عمل له چمبي څخه يوه طبقه هم له اقتصادي ګټو څخه نه محروموي.

**د اکتنازيت مخنيوي:** د اسلام اقتصادي نظام کوم خاص ټولني، مخصوصي ډلي ته اجازه نه ورکوي چي پر دولت او د دولت پيداکولو پر ټولو وسايلو قبضه وکړي او يايي زيرمه کړي

**د مزد او پاداش ترمنځ توازن:** د اسلام اقتصادي نظام د خواري (مزدوري) او مزد ترمنځ توازن قايم کړي دي

د  حضرت علي رض څخه روايت دي چي د نبي کريم ص اخري وصيت دا وو، ژباړه:په لمانځه قايم اوسيږي، او د هغو کسانو د حقوقو حفاظت کوي چي ستاسي ما تحت او تر لاسونو مو لاندي دي.

# ادامه...

**جامعیت:** د اسلام اقتصادي نظام جامع او هر اړخيز نظام دي، په دي معني چي په دغه نظام کي د دولت(مال) مواردو موانعو او مصارفو دري واړه اصول او قواعد، حدود او احکام او نواهي موجود دي، په داسي حال کي چي دغه جامعیت په بل هيڅ اقتصادي نظام کي نه شته.

**تيوري اوعمل:** اسلامي اقتصادي نظام تيوري، يعني نظري او فکري عمل دي.

د کمونيزم د اقتصاد په خير نه دي، چي يوازي عمل وي او په عقيدوي لحاظ هيڅ ور په کي نه وي،د اسلام اقتصادي نظام د انسان مادي او معنوي اړخ دواړه په نظر کي نيولي دي

# ادامه...

**وړاندیوالي:** د اسلام اقتصادي نظام له ټولو نظامونو قدامت لري پیړي وړاندي يي د بیوزلو، معیوبو، کارګرو او بدایو حقوق ثابت او قبول کړي دي او پخپله بر نامه کي يي ورته لومړیتوب ورکړي دي.

دغه حقوق د کوم خصوصي انقلاب، خوځښت او يا هم پاڅون په نتیجه کي نه دي ورکول سوي، لکه: صنعتي انقلاب، او یاهم د کپیټالیزم پر وړاندي د کمونیزم پاڅون.

# د اسلامي اقتصادي نظام پروړاندي خنډونه:

یهود او نصارا د مسلمانانو دايمي دښمنان دي، هغوي د اسلام د پيل څخه تر نن ورځې پوري د اسلام سره خپله دښمني په هره برخه کې جاري ساتلي ده .

هغه که تعلمي جنګ، تربیوي جنګ، ساینسي جنګ ،اقتصادي جنګ او نور ...

یهود او نصارا وو همیشه هڅه کړي ده چې اسلام د ټولنیزو اصولو سره په ټکر کې وښيي او مسلمانانو ته په دي اړه شکونه ورواچوي .

الله ج د دوي د دښمني په اړه نبي کريم ص ته داسي فرمايي .

ژباړه:او هيڅ کله به ستاڅخه یهود او نصارا راضي نشي تر څو چې ته د دوي د دين متابعت وکړي .

# د ابن خلدون ژوند:

ابن خلدون په ۱۳۳۲ میلادي کال کې په تونس کې دي نړي ته سترګې پرانیستي. ابن خلدون دتاریخ او ټولني مخ کښ او یو ستر اسلامي مفکر وه. ځني د نظر خاوندان نوموړي په شرقي نړي کي د اقتصاد د علم یو ریښتني بنسټ ایښودونکي ګڼي. نو په همدي ترتیب ابن خلدون تاریخ دان ټولني پیژندونکي اواقتصاد پوه و. نوموړي په ۲۰ کلني کي د تونس دسلطان دبیر(لیکوال) وه نوموړي ډیر ژر دسلطان په خلاف په نظریاتو کي لاس لرلو له امله ونیول شو اود تونس دسلطان لخوا زندان ته واچول شو وروسته د ۲ کلونو څخه دسلطان په وفات سره نوموړي د زندان څخه ازاد شو او اندلس ته لاړو.

# ادامه...

ابن خلدون له اسپانيا څخه بجايه ته لاړ خو د ژوندانه د مسايلو او د قبايلو ترمينځ د برخورد له امله دوباره اندلس ته ور وګرځيد د اندلس سلطان نوموړي د ښار څخه بيرون کړ اود ۴ کلونو لپاره د ابن سلامه په نوم قلعه کي جلا اوسيده په دي وخت کي نوموړي د افريقا د شمال قومونو د تاريخ په ليکولو پيل وکړ او ددي کتاب د بشپړولو په موخه تونس ته لاړو چي بيا هلته د سلطان لخوا استقبال شو او بالاخره مصر ته لاړ او هلته دسلطان په امر دقضاوت مقام ته ورسيد. او بالاخره ابن خلدون خپل دعمر تر پايه پوري ۲۴ کلونه په مصر کي پاتي شو.

# د ابن خلدون لیکلي اثار:

ابن خلدون زیاتي لیکني کړي دي چي دده دلیکونو څخه یو یي هم د العبر په نامه کتاب دي چي دا په ورځنیز ژوند کي ډیر مهم دي. اودا کتاب ۷ جلدونو کي خلوص شوي دي چي سریزه یي ابن خلدون ده. او په یاده سریزه کي چي د ابن خلدون په نامه مشهور ده د نوموړي ټولنیز او اقتصادي نظریات تر سترګو کیږي. د نوموړي د نظریاتو څخه معلومیږي چي ابن خلدون له ادم سمیت څخه ۴۰۰ کلونو مخکي د اقتصاد په اساسي مسایلو پوهیده. دا ځکه چي ۴۰۰ کاله کیږي چي د ابن خلدون د سریزي په نامه کتاب په ۱۳۷۶ میلادي کال کي لیکلي دي او ادم سمیت د ملتونو د شتمني تر عنوان لاندي خپل کتاب په کال ۱۷۷۶ میلادي کي لیکلي دي. چي د ادم سمیت دا کتاب د ابن خلدون د نظریاتو تقدوم روښانه کوي. په دي کتاب کي نوموړي د تمدونونو لوړوالي اوټیټوالي نظریه روښانه کړیده نو همدلته په لنډیز سره د یاد کتاب یو موضوع یعني دانساني تمدون ۴ مرحلو ته کتنه کوو.

## دانساني تمدون ۴ مرحلي:

**لومړي مرحله :** د انساني تمدون پیل دي. د ابن خلدون په نظر انساني ټولنه یو اړین کار دي او باید وخیړل شي چي دا ټولنه په کوم اساس جوړه شویده د ابن خلدون په اند انساني ټولنه په ۲ اساسونو متکي ده.

١. صحرا نشیني ( کلیوال ژوند)

٢. شهرا نشیني ( ښاري ژوند)

**دویمه مرحله:** په بشري تمدون کي د توکو اوسود اهمیت په مطالعه کولو سره بازار جوړیدل دي هغه څه چي انسان یي په خپل کوښښ سره لاس ته راوړي کسب نومول کیږي.

د کسب سره په اړیکه کي سوداګري د توکو اخیستل او دهغوي ساتل دي هغه وخت ته چي دبازار دوران اونوسانات دا ایجاب کړي چي سواداګر یي په زیاته ګټه سره اوپلوري.

# ادامه...

**دریمه مرحله:**په حقیقت کي د بشري تمدون د عمران مرحله ده د ابن خلدون په نظر کله چي عمران پیل شي اوپراختیا وکړي نو نفوس ورسره په زیاتیدونکي نرخ زیاتوالي وومومي نو په دي سره د اړینو توکو قیمتونه کمیږي اود تجملي توکو قیمتونه لوړیږي.

**څلورمه مرحله:** د بشري تمدن داقتصادي عمران دفرجام یا عاقیبت مرحله ده.

بشري تمدون د دریو مرحلو له سفري کولو وروسته دي وروستي مرحلي ته رسیږي. په دي مرحلي کي به داقتصادي رفاه اوثروت زیاتوالي سره بشري ټولنه صعودي روند ته دوام ورکړي او که به هغه د سقوط لوري ته بوځي؟

ابن خلدون عقیده لري دزیاتي رفاه او دثروت جمع اوري سره به په یوه ډله دبلي ډلي حاکمیت پیل کیږي او مال او ثروت په ټولنه کي د کوچني ګروپ په لاس کي راټولیږي اواکثریت خلګ غریبي اوتنګلاسي سره مخامخ کیږي

# د ابن خلدون اقتصادي نظريات:

دا چي ابن خلدون د ادم سميت څخه څو سليزي مخکي ژوند درلود دشلمي پيړي د نامتو اقتصاد پوه کينز له نظرياتو سره نږديوالي او ورته والي لري .نوموړي په اقتصاد کي ددولت رول پانګه اچونه اوپه ملي محصول باندي يي اغيزي انفلاسيون او ارزښت په څير اقتصادي مسايلو په اړه د کينز سره ورته نظر لري او د پاملرني وړ ده ابن خلدون په اقتصاد کي ددولت رول ته له دوه خبرو سره اړيکه ورکوي يو دا چي په ځينو برخو کي پانګه اچونه کول زيات لګښت ته اړتيا لري اوخصوصي سکتور يي وس نه لري لکه د زيربنايي کارونو ترسره کول لکه د بريښنا او لارو جوړول په دي برخوکي فعاليت کول ددولت دنده ده . دلګښتونو پرته ددولت دفعاليت بل لامل دخصوصي په پرتله عامه ګټو ته اوليت ورکول دي او ټولګټو ساحو کي بايد دولت خپل رول اداء کړي. ښارجوړونه، تعليم تربيه، اود عامه ګټو هغه چاري هغه فعاليتونه دي چي دولت يي په ترسره کولو سره دټولني لپاره سهولتونه رامينځته کوي که خصوصي برخه په دي چارو کي لاس وهنه وکړي نو هغوي ټولنيزو ګټو ته ارزښت نه ورکوي اود خپلو ګټو پيروان دي

# ادامه...

ابن خلدون د پانګې اچوونې او په ملي عاید باندې د هغې اغیزو په اړه له زیاتونکي ضریب له نظرېې څخه تر کینز څوسلیزې دمخه خبر وو او دا مسله یې ارزولې ده.

ابن خلدون پیسې د اقتصادي ژوندانه یوعمده عنصر ګڼي اوعقیده لري چې د پیسو رول په هغه حالت کې زیات دی چې له سروزرو اوسپینو زرو څخه جوړې شوې وي د نوموړي په اند پیسې د انسان دکار مقداري محتوا منعکسوي. نوموړي مزد (دکارارزښت) د درې شیانو پورې تړلې ګڼي.

۱. د انسان دکار اندازه.

۲. دنورو کارونو په منځ کې د هغه ځای.

۳. هغه ته د خلکو تقاضا.

د ابن خلدون مور او پلار په داسې وخت کې د وبا ناروغې له امله وفات شو چې کله دی د ۱۷ کلنو په عمر وو.

اوبالاخره نوموړی په ۱۴۰۶ میلادي کال کې چې عمر یې تقریبي ۷۴ کلونوسره سمون خوري په قاهره کې اومړ

د څپرکي پای.

# څلورم څپرکي

## د سوداګرو مکتب(Mercantilism):

- د مرکانتلیزم اقتصادي نظام د رامنځته کیدو لاملونه
- د مرکنتالیزم مفهوم
- د اقتصاد په اړه د مرکانتلیستانو نظرونه
- د مرکانتلیستانو مهم سیاستونه
- د لومړني او وروستني مرکنتالیزم ځانګړتیاوي
- د  مرکانتلیزم تاریخي ارزښت
- دمرکانتلیستانو د نظریاتو زوال

ستاسو په نظر د مرکانتلیزم اقتصادي نظام
د رامنځته کیدو لاملونه څه دي؟

# د مرکانتلیزم اقتصادي نظام د رامنځته کیدو لاملونه:

الف: اقتصادي بدلونونه او جغرافیاوي کشفیات

ب: فکري بدلونونه

ج: سیاسي بدلونونه

# الف: اقتصادي بدلونونه او جغرافیاوي کشفیات:

په نهمي مېلادي پېړۍ کي د شرقي نړۍ سره د باختري اروپا اړیکي قطع شوي وې او نوموړې منطقه د وحشي طائفو لخوا ترحملو لاندي وه باختري اروپا په دي وختونو کي په کوچنیو واحدونو او منطقو باندي وېشل سوي وه چي هره منطقه د بند اقتصاد لرونکي وه او خپلي محدودي اړتیاوي یې خپله تامینولې، په اول کي شرایط ډېر خراب وه خو په وروسته کي هرڅوک د امنیت په لټه کي وو سوداګري د ډبوالي حالت کي وه او تبادلي جنسي بڼه درلوده.

# ادامه...

شرایط د وخت په تېرېدو سره ثابت پاتي نه شوه قرار قرار په اړیکو او د انتقالاتو په امکاناتو کي بڼه والي راغي. د بهرنیو حملو په مقابل کي د مقاومت ګروپونه رامنځ ته شوه د پنځلسمي پېړۍ څخه د اسکاندونیا اوسېدونکو د بېزانس اوسېدونکو سره په سودا ګرۍ پیل وکړ او په یوولسمه پېړۍ کي د شام پاني(Champagne) په منطقه کي د بازار رامنځته کېدلو د اروپا سودا ګرۍ ته رنګ ورکړ.

په دې ترتیب سره د مځنیو پېړیو اقتصادي ژوند په طرز کي بدلون را منځ ته شو په دې دوامداره بدلون کي دپنځلسمي پېړۍ په پاي او د شپاړسمي پېړۍ په پیل کي تېز والي راغلي .

د چاپ د ماشین په اختراع کولو سره د نشر نظریه رامنځته شوه. د امریکا کشفولو د او افریقا له لاري هندوستان ته لاس رسي سره پراخ امکانات منځته راغله په پیل کي د اسپانیا او پرتګال اوسیدونکو او بیا ټولو اروپایانو د دریابونو او بحرونو لاري په مخ کي ونیولي تر څو د نوو ځمکو له غنیمتونو څخه بي برخي پاتي نه شي.

# ادامه...

په اروپا کي د نجيبه فلزاتو زياتوالي د اقتصادي ژوند په اساساتو کي بدلون راوست او د پيسو  د رواج کېدو لامل وګرځېده توکو ته تقاضا زياته شوه د صنعتونو فعاليتونو رونق و موند په قيمتونو کي نوسانات زيات سول او حکومتونه په اقتصادي ژوندانه کي لاسوهني ته اړ سول. دي بدلونونو  يوازي سودا ګري نه بلکه د نړيوال اقتصاد څېره بدله کړه باختر سيندونه ته لار لرونکي هيوادونه لکه اسپانيه، پرتګال، فرانسه، هالنډ، او انګليستان توانمند شوله او په تدريجي توګه يي د ايتاليا جمهوريتونه د تاثير لاندي راوستل او دسوداګريزو او جنګي بحيرو تملک د سياسي اقتصادي او نظامي توان په مهمو لاملونو باندي بدل سول .

# ب: فکري بدلونونه:

د منځنیو پېړیو ټولنیز ژوند چې دکلیسا له لوري یې اساسات ټاکل شوي وو او دټولني ددوامداره رواجونو په رڼا کي په مخ بیول کیده د اقتصادي لاملونواو پیښو ترتاثیر لاندي راغي.

د ملوک الطوایفي دوري ټول ژوند د ثبات حالت کي وو، کلیسا دمال سره مینه کول بدعمل ګڼل کیده اقتصادي فعالیتونو د مذهبي عقیدو او رواج سوو اخلاقي اصولو تر شعار لاندي قرار درلود.

د عادلانه قیمت، مزد او سود په اړه عالمانو اوږده اونه ختمیدونکي بحثونه کول. عمومي عقیده داوه چې د هر چا عواید باید داسي اوسي ترڅو دځان او کورنۍ ژوند د ټولنیز مقام مطابق تامین کړي.

# ادامه...

د saint Thomas  په نظر ګڼه باید د کورني په خاصو اړتیاوو،د غریبو لاسنیوي او ټولټي لګښتونو پوره کولو باندي محدوده اوسي. دا ډول فکر د ستونزو سره مخ سو. د سوداګریزو فعالیتونو څخه د زیاتي ګټي تر لاسه کولو، د ژوند شرایطو د ښه کیدلو،د ټولني په اوسیدونکو کي د شخصي ګټي روحیه ژوندي کړه.

له بل لوري جغرافیاوي کشفیاتو خلګ له بند محیط څخه خلاصون او ازادۍ ته وهڅول.

# ادامه...

قرار قرار دمنځنیو پیړیو د اخلاقینو اصل له صحني ووت او دمال سره مینه او د ثروت جمع اوري د فردي او ټولنیزو فعالیتونو په موخه بدل شوه په نتیجه کي د ارامي او متعادلي ټولني په ځاي له تشنج ډکه ټولنه رامنځته سول.

له بل لوري مذهبي اصلاحاتو دفردي مسولیت او ازادي فکر په ټولنه کي تقویه کړ. د مذهبي اصلاحاتو بنسټ ایښیدونکي کالوین (Calvin)مال او ثروت الهي احسان ګڼه او عقیده یي لرل چي انساني وجدان باید مال خوښولو او ګټي ترلاسه کولو څخه وېره ونه لري.

ددي فکرونو سره د سوداګري روحیه قوي سوه نو کلیسا هم خپل نظرونه تغیر کړه تردي چي یو شمیر مذهبي ډلو د پور په ورکولو او بانکي فعالیتونو باندي پیل وکړ.

# ج: سیاسي بدلونونه:

په باختري اروپا کي مخکي د ملوک الطوایفي دوري د رواجونو څخه کار اخیستل کیده خو په دې دوره کي چي د ملتونو د پیداکېدلو د دور په نامه یې هم یادولي شو دولتي قدرت د کلیسا ځای ناستي شو دې حالت د پخواني دور د ګټو سره توپیر درلود او بیله شکه پراختیا غوښتونکي پاچاهان یوله بله سره په شخړو واوښتل.

د هغوي اقتصادي تدبیرونه او عقاید د قدرت تلبۍ سیاست بیانوونکي وه په دې وخت کي دولت په اقتصادي ژوندانه کي د اشخاصو نوښتونو ته احترام درلوده او خصوصي فعالیتونه یې د عامه ګټو په رڼا کي رهنمایي کول.

# ادامه...

ځیني د نظر خاوندان قدم مخته ولاړل او د حکومت د قدرت په قوي کولو کي باورمند وه ددوي څخه انګلیس لیکوال هوبس وو چي خپل نظریات یې په (1651) م. کال کي د لیواتان ترعنوان لاندي کتاب کي بیان کړل د نوموړي په عقیده د ټولني غړي د شخصي ګټو په ترلاسه کولو له هیڅ ډول عمل څخه ډډه نه کوي او په رښتني توګه یود بل په مقابل کي د لېوانو په څېر دي .

نزاع او شخړي د بشر د طبیعت جز دي نو کله چي د اشخاصو ترمنځ نزاع او شخړه رامنځته کیږي په دې وخت کي انسان د هیڅ اصولو پابند نه وي او د خپلو موخو د تر لاسه کولو لپاره د هر ډول وسایلو کارول مجاز ګڼي نو پدي وخت کي دامنیت شتون معني لري نو خلک اړ دي چي دولت په ټولنه کي د امنیت د رامنځته کولو او ساتلو مامور وګرځوي ځکه چي دلته یو مرکزي قدرت دولت دي چي د زور په کارولو سره ټولنیزه صلح برقراره کوي.

د مرکنتالیزم په اړه څومره پوهیږي؟

# د مرکنتالیزم مفهوم:

د عنعنوي اقتصادي اړیکو بدلون د بازار اقتصادي اړیکو باندي یوه تاریخي دوره په برکي ونیوله چي له شپاړسمي پیړۍ څخه یې تر اتلسمي پیړۍ پوري دوام وموندہ په اقتصادي ادبیاتو کي دا دور د مرکانتلیستانو د دور په نامه یاد شوي دي.

د مرکانتلیزم مفهوم د لاتیني ژبي mercari لفظ څخه مشتق شوي دي، چي د سودا ګرۍ کولو په معني دي. په انګلیسي او فرانسوي ژبو کي

Mercantite د سوداګرۍ معني لري او په ایټالوي ژبه کي Mercante د سوداګر یا پیرېدونکي په معني دي.

# ادامه...

د امریکا د کولمبو پوهنتون استاد د مرکانتلسم تعریف داسي لیکلي دي:

( مرکانتلسم د یو شمیر نظریاتو، سیاستو او فعالیتو څخه عبارت دي چي دولت هغه د محیط د ایجاباتو پر اساس منځ ته راوړي اود دولت د قدرت د تقویې او د ټولني د افرادو د تعاون او ملي اتحاد په غرض په اقتصادي ساحه کي دهغه څخه استفاده کوي)

# د اقتصاد په اړه د مرکانتلیستانو نظرونه:

- پیسې او استخدام
- مثبت سوداګریز بیلانس
- د مزد او دنفوسو د زیاتوالي سیاستونه
- د یوه تعلیمي، مالي او مالیاتي نظام بنیادي طرح
- مالي سوداګري

# الف) پیسې او استخدام:

په هغه وخت کې د زیاتو تولیدي عواملو وزګار پاتې کېدلو ته په پاملرنې سره په جریان کې د پیسو د شمېر یا سرعت زیاتوالي ببله دې چې انفلاسیوني حالت اثر ولري د اقتصاد د پرمختګ لامل وګرځېدي.

د اوولسم قرن په نیمایي کې په انګلیسي لیکنو کې په استخدام او میلي عاید باندې د پیسو د مقدار د زیاتوالي اثر مطرح شو د یادولو وړ ده چې د استخدام د کچې لوړول د مرکنتالیستانو اصلي موخه نه وه بلکه د نورو موخو د ترلاسه کولو په توګه ترې استفاده کېدل.

# ادامه...

دلته د کا ر د نوو ساحو رامنځته کول او د استخدام زیاتول ددې لپاره تعقیب کېدل ترڅو هیواد په بهر کې جوړشوو توکو د واردولو د اړتیا څخه خلاص کړي او په دې کار سره د شهزاده ګانو او حاکمو ګروپونوسیاسي توان زیات شي

په دې توګه د سودا ګرو د ډلي اصلي موخه د خلګو ارامتیانه بلکه د دولت تقویه او قوي کول وه. د پیسو په برخه کې مرکانتلیستانو د نظر اساسي عنصر همدا غوښتنه وه چې پیسې باید همېشه او په پرله پسې توګه په جریان کې اوسي

# ب) مثبت سوداګریز بلانس:

له بهر څخه د توکو پیرېدل چي له هیواد څخه د قیمتي فلزاتو د سکو د وتلو لامل ګرځي د هیواد د اقتصادي پرمختتګ لپاره په تاوان دي، خو په بهر باندي د توکو په پلورلوسره چي قیمتي فلزات او سکې داخل ته جریان پیدا کوي نو سودا ګري د هیواد د اقتصادي پرمختتګ لپاره په ګټه ده.

د بولیونستانو د نظر خلاف انګلیسي مرکانتلیست توماس مان 1571-1641 پوري دا درک کړه چي د نورو ملکونو څخه د اولیه اوخامو موادو ارزانه واریدول او په داخل کي د تولید له لاري په نوو توکو د هغوي تبدیلول او دوباره نورو ملکونو ته د تولید شوو توکو صادرول د بهرني سودا ګرۍ په بیلانس کي د زیاتوالي سبب ګرځي ددوي اصلي موخه داوه چي مثبت بیلانس رامنځته کړي

# مرکانتلستان د مثبت تجارتي بیلانس طرفداروه:

پدې مانا چې صادرات نسبت وارداتوته باید زیات سي او تجارتي بیلانس عبارت له هغه بیلانس یا له هغه حساب څخه دي چې ټول وارداتي اقلام اوټول صادراتي اقلام په هغه کې درج کیږي اوپه درې ډوله دي.

د تجارت مثبت بیلانس : عبارت له هغه بیلانس څخه دي چې صادرات نسبت وارداتو ته زیات وي یعني صادراتي اقلام نسبت وارداتي اقلامو ته زیات وي.

د تجارت منفي بیلانس : عبارت له هغه بیلانس څخه دي چې واردات نسبت صادراتو ته ډیر وي یعني وارداتي اقلام تر صادراتي اقلامو زیات وي.

د تجارت معادل بیلانس : عبارت له هغه بیلانس څخه دي چې صادرات او واردات سره مساوي وي یعني صادراتي اقلام د وارداتي اقلامو سره مساوي وي.

# ج) د مزد او د نفوسو د زیاتوالي سیاستونه:

د اقتصادي پرمختګ په نظرکي نیولو سره چي مرکانتیلستانو سوداګري او د صادراتو زیاتوالي ته اهمیت ورکاوه یوه غوښتنه یې داوه چي په داخل کي باید مزد ټیټ وساتل شي.

د هغوي په نظر ټیټ مزد د صادراتي توکو سیالي او د سیالۍ قابلیت په نړیوال بازار کي تعین او تنظیموي. دې ډول تفکراتو مرکانتیلستان دې ته وهڅول ترڅو دنفوسو زیاتوالي ته خاصه پاملرنه وکړي .

ځکه دهغوي په عقیده د کارګري قوې د عرضې دوامداره زیاتوالي مؤلیدونو ته امکان ورکوي ترڅو د مزد کچه ټیټه کړي.

# ادامه...

د نفوسو د زیاتوالي د تشویق په خاطر له دولتي تدابیرو څخه کار اخیستل کېده.

داخلي مهاجرتونو تشویق کول، بهرته د مهاجرت منع کول او په داخل کي د ودونو تشویقول مهمي طریقې ګڼل کېدې.

مرکانتلیستاتو د فقیرانو سره د لاس ورکوني د دولتي او کلیسایي تاسیساتو او قوانینو لغوه کول غوښتل. ددوي په عقیده د کار څخه نفرت او لري والي د تمبلۍ او وزګارتیا د زیاتوالي لامل ګرځي او دا باید په کاري مراکزو او کارخانو کي د کار کولو په شوق بدل کړو.

مرکانتلیستانو د تعلیم او تربیې نظام نوي کول او تخصصي او حرفوي مکتبونو زیاتول غوښتل ترڅو د کارګرو کیفیت لوړ سي او ښه کارګر ونیول شي.

# د) د يوه تعلمي، مالي او مالياتي نظام بنيادي طرح:

پرمالياتي مسايلو په اتلسمه پيړۍ کې ډېر بحثونه وشوه او بنيادي طرحي رامنځته شوې چي دلته د يوستي او سونن فيلس د ليکنو څخه يادونه کولاي شو يوستي د مالياتو اخيستلو ته خاصه پاملرنه وکړه د مرکانتليستانو د نظر سره سم هغه چا چي خدمات ترسره کړي ياېې ترسره کوي د هغوي لپاره د مالياتو دوه عمومي اصله د يادوني وړدي.

# دوه اصله يي:

۱.اصل: ماليات بايد تر هغه اندازې واخيستل شي چي د مالي وړ شتمنيو په اساس کي د کموالي سبب ونه ګرځي.

۲.اصل: بله برخه د مالياتوپه اخيستو کي برابروالي او مساوات دي چي دهغي له مخي هر ځوک بايد دخپلي دارايي په نسبت ددولت لګښتونو يوه برخه په خپله غاړه واخلي او په غيري منقولو توکو هم د ماليې او تعرفې نرخونو وضع کېدل.

# ه) مالي سودا ګري:

د اتلسمي پيړۍ په پيل کي د اسکاتلند اوسېدونکي جان لاو د قيمتي فلزاتو په اړه دمرکانتلستانو نظرونه کاغذي پيسو په برخه کي هم درست وګڼل. لاو د سيکو په اړه داسي نظر څرګند کړ چي د تاداياتو هره وسيله د تاداياتي عمل له مخي د خاص ارزښت لرونکې ده.

دنورو سودا ګرانو په څېر لاو هم په دې باور وو چي دپيسو زياتوالي د هيواد او سوداګرۍ او صنعت د پرمختيا لامل ګرځي په دې ترتيب سره د خپل لومړني نظر مطابق د قيمتي فلزاتو په ځاي په جريان کي د نوټونو د حجم د زياتوالي طرفدار وه.

د لومړني او وروستني مرکانتلیزم په اړه په څه پوهیږي؟

# د لومړني او وروستني مرکانتلیزم ځانګړتیاوي:

لومړني مرکانتالیزم د لویو جغرافیایي اختراعاتو نه مخکي رامنځته سوي او وخت یې د ۱۶ پیړۍ تر نیمایې پوري غزیږې په دې دور کې د هیوادونو ترمنځ سوداګریز بیلانس د ترلاسه کولو په موخه لومړنیو مرکنتالستانو له لاندې کړنلارو څخه پیروي کول:

- په صادراتي توکو باندي د لوړو قیمتونو وضع کول
- په وارداتي توکو تر ممکنه حده محدودیت وضع کول
- له هیواده د طلا او نقري وتلو ته اجازه نه ورکول
- په دي ترتیب د لومړني مرکنتالیزم د پول ګرایي تیوري د پولي بلانس په توګه معلومیږي.

# ادامه...

لومړني مرکانتالستان د پیسو د اسمي تیوري په مفهوم نه پوهیدل کوم چې د میلاد نه مخکې وخت سره او د هغې له جملې نه د ارسطو د کار سره اړیکه لري ارسطو نظر درلود چې سکې په طبیعت کې نه سته په امر سره رامنځته کیږي او د هغې د بدلولو او د استعمال څخه د کښلو واک مونږ سره دي.

لومړنیو مرکانتالستانو طلا او نقره د خپل طبیعي خصوصیت په لرلو سره پیسې ګڼلي او هغه یې د ثروت سرچینه ګڼله.

# ادامه...

وروستني مرکانتلستان د ۱۶ پیړی له دویمي نیمایي څخه د ۱۷ پیړی تر دویمې نیمایې پورې وخت سره اړیکه لري او ځیني اثار په ۱۸ پیړی کې هم موجود ده.

په دې دوره کې د هیوادونو ترمنځ سوداګریزي اړیکي پرمختللي او دوامداره وي چي د سوداګري د پرمختګ لامل و ګرځیدلي مرکنتالستانو د مثبت سوداګریز بیلانس د ترلاسه کولو په موخه د لاندې تدبیرونو وړاندیز کاوه :

- د بهرني بازار څخه ارزانه توکي لاسته راوړل او داخلي صنعتي توکي په بهر پلورل.
- د هیواد د مثبت سوداګریز بیلانس په موخه له بهر څخه د لوکسو توکو واردات بندول.
- د ګټورو سوداګریزو معاملاتو په خاطر د طلا او نقري صادرول چې په مرسته یې په هیواد کې د هغې په حجم کي زیاتوالي راسي او مثبت سوداګریز بیلانس رامنځته سي.

# ادامه...

وروستیو مرکنتالستانو د مخکینیو مرکنتالستانو په نظر کې د پولي بیلانس په ځای د سوداګري د بیلانس نظر ورداخل کړ.

د پیسو د جنسي ماهیت په پېژندلو سره د پیسو ارزښت د وروستنیو مرکانتالستانو له خوا د پخوا په څېر د طلا او نقرې په طبیعي ځانګړتیاوو کې لټول کېده خو د یادولو وړه ده چې دوی د میتالي څخه مقداري تیوري او څو متالي سیستم ته ورتیر سول.

که لومړنیو مرکنتالستانو د پیسو اصلي دنده ذخیره ګڼله خو وروستیو مرکنتالستانو د تبادلي وسیله ګڼله.

لمړنیو مرکنتالستانو پیسي او مال یو شان ګاڼه خو وروستیو په دې باندي یو څه نیوکه کوله د مثال په ډول ژان بودن په دي عقیده وه چي د پیسو په مقدار کي زیاتوالي د انفلاسیون لامل ګرځي.

ستاسو په نظر د مرکانتلیزم د نظریي د له منځه تللو لاملونه څه وه ؟

# دمرکانتلیستانو د نظریاتوزوال:

په اتلسمي پېړۍ کي نور د سوداګرو په نظریاتو باندي عمل کول ستونزمن شول.

په مستعمره مملکتوکي په ازادانه توګه صادارت او وارداتو باندي د استعمار ګرو د لخو بندیزونه وه چي له امله یي په مستعمره منطقو کي قاچاق مخه په زیاتېدو شو او د مستعماراتي قراردادو اصول د بې ثباتۍ سره مخ شول.

دقحطۍ او تنګلاسۍ په حالتونوکي د یوشمېر توکو په صادرولو کي د اجازې لپاره یو شمېر استثنایي مقررات وضع شول په مستعمراتي ځمکو کي دخلګو غصه د استعمار ګرو حاکمو د وحشیانه سیاستونو په مقابل کي مخ په زیاتېدو شوه.

# ادامه...

د مستعمراتي قرار دادونو بده نتیجه داوه چي د مستعمرو خلګ یې د خپل وطن او خپلو مشرانو په مقابل کي شورش ته هڅول.

د دولت په امر دغنمو په نرخ کي زیاتوالي د کارګرو په مزد کي کموالي د بزګرانو د فقر او غربت لامل شو دولت غوښتل د غنمو قیمت باید ټیټ وساتل شي او ددې لپاره یې بزګرانو د غنمو کرلو ته اړ کړل او د نورو شیانو د کرلو یې منع کړل.

له بلي خوا دغنمو خرڅول هم ازاد نه وه چي دا کار د بزګرانو دناخوښۍ لامل وګرځېد.

د غله جاتو خرڅول د بازار له لاري د دولتي مامورینو د کنترول لاندي ترسره کېدل چي په دې سره دولتي مامورینو کوښښ کاوه چي دغنمو د نرخ ثابت ساتلو په خاطر غنم خریداري او ذخیرې ته تشویق کړي.

# ادامه...

مرکانتلستانودسختو مقرراتو او غلطو استفادو څخه ټول خلک تنګ راغلل او په عامو خلکو کې د استعمار څخه د ازادۍ جذبه لوړ حد ته ورسېدل چې په دې سره د ازادۍ تمایل د فزیوکراتانو یا طبعیت پیروانو په نوم مکتب ته منسوب شو.

د ځېرکي پاي.

# پنځم څپرکي

**دطبیعت پیروان (فزیوکراتان) :**

- اقتصادي او ټولنیز حالات
- د فزیوکراسي مفهوم
- داقتصاد په اړه دفزیوکراتانو نظرونه
- داقتصادي جریاناتو طبقه بندي
- دفرانسوا کنه نظریات د اقتصاد په اړه
- د تورګو نظریات
- د فزیوکراتانو د نظریو اقتصادي او مالي نتیجي

آیا د فزیوکراتانو په اړه پوهیږې؟

# اقتصادي او ټولنيز حالات:

په ۱۸ پېړۍ کې د فرانسې د اقتصادي حالاتو بدلون په دوه مرحلو وېشل سوي دي لومړي د رکود مرحله دويم د رونق او پرمختګ مرحله ده.

د ۱۸ پېړۍ په لومړي ربع کې په فرانسه کې اقتصادي رکود او بحران وه د انتقالاتو ستونزو،ګمرکي حقوقو او نورو رنګا رنګ ستونزو سوداګرۍ د ځنډ سره مخامخ کړې وه. د حاصلاتو د کموالي تر څنګ بزګران د مالياتو د بار څخه په تنګ راغلي وه، د فرانسې په شمال کې بزګرانو خپلې ځمکې پرېښودلې او په کلو کې يې په ګدايي پيل وکړ او يا ښارونو ته ولاړل.

د عوامو په افکارو کې يو نهضت رامنځته سو او فيلسوفانو د فردي او انساني ازادۍ صفت کول پيل کړل. د نظر خاوندانو په دې برخه کې د اقتصادي مسايلو اهميت ته پاملرنه وکړه.

# ادامه ...

د ۱۸ پیړۍ په پای او د فرانسي د ستر انقلاب نه مخکي حالات بدل سوي وه سره له دي چي ټولنیز حالات په مکمل ډول د منلو وړ نه وه خو په اقتصادي چارو کي ښه والي او پرمختګ لیدل کیده د فرانسي نفوس چي په ۱۷۰۰ کال کي د ۱۷ او ۱۸ میلیونو په حدودو کي تخمین کیدل په ۱۷۸۹ کال کي د ۲۵ او ۲۶ میلیونو پوري ورسیدل. مختلف تولیدي موسسات جوړ او د معدنونو استخراج،کیمیاوي او فلزي صنایعو او د صلاح په جوړولو بوخت وه.

ددي عصر یو لیکونکي (Arnoult) د سوداګري د موازني په خپل کتاب چي به ۱۷۸۸ کي نشر سو د سوداګري او تبادلي د رونق په اړه شواهد او مدرکونه ذکر کوي.

د ۱۷۱۶ څخه تر ۱۷۸۹ کال پوري د فرانسی بهرنۍ سوداګري څلور برابره سوه.

د نړي مصرفي فنډ نیمايي د سن دومینګ جزیرې یوازي تامینوه.

# ادامه ...

د قیمتونو د تدریجي زیاتوالي سره د فرانسي هیواد په دي وخت کي د نسبي ثبات څخه برخمند وه. ددي شرایطو په چوکاټ کي د رفا اقتصاد او فردي اصالت په اړه نظر رامنځته سو. ددي نظریي تنظیم کوونکي چي تر ننه يي اثار شته فزیوکراتان وه

# دفزیوکراسي (physiocracy)مفهوم:

لکه څنکه چي د مرکانتلستانو سیاستونه یو لوري وه د طلا او نقري په واسطه د ملتونو د بډايني اندازه کول، کرنه تقویه کوونکي صنعت تشویق کول، هیواد ته دطلا او نقرې راتګ تشویق کول او دطلا پر صادراتو بندیز همدارنګه داقتصاد په ټولو برخو کي دد دولت لاس وهنه دمرکانتلیستانو عمده سیاستونه وه چي داشخاصو له خوا د صنعت او سوداګرۍ پرمخ وړل یي له ستونزو سره مخامخ کړل او د نوو نظریو د را منځته کیدو لامل و ګرځیدل.

ددغو سیاستونو په مقابل کي د فزیوکراتانو سیاست دلومړي ځل لپاره په فرانسه کي. چه اساسي مفهوم د ( physiocracy) د لفظ څخه چي دطبعیت او تسلط په معنادي رامنځته سو چي دانوم (Dupont de Nemours) لخوا ورکړل شو چي د دوو یوناني کلیمو physis دطبعیت او kratos د قدرت څخه مشتق شوي دي.

# ادامه ...

دفزیوکراتانو مکتب دلومړي ځل لپاره په فرانسه کي رامنځته شو چي بنسټ ایښودنکي یي فرانسوا کنه وه  ډیري اقتصادي، سیاسي او ټولنیز عوامل وو چې د فزیوکراسی د ودې لپاره مسؤل وو .

خلک دبیلا بیلاو ستونزو سره مخ وه په اقتصادي مسایلو کي ددولت لاس وهني او همدارنګه دمرکانتلستانو سیاستونه تر ډیره حده پوري یو لویه ستونزه وه چي ان تر دي داسیاستونه په استعمار بدل شو دولت په خلګو باندي درانه مالیات او بندیزونه لګول چي پورته لاملونه او همدارنګه ځیني نور لاملونه دفزیو کراتانو درامنځته کیدو لامل وګرځیدل.

فزیوکراسي په اصل کې د مرکانټیلیزم په وړاندې د فرانسی پاڅون وه .

# د اقتصاد په اړه د فزیوکراتانو نظرونه:

داقتصادي قوانینو او ټولنیز نظم په اړه دفزیو کراتانو نظرونه په دوه اصلونه کي بیان کیدلي شي.

۱-داچي په بشري ټولنه کي یو طبعي نظام شتون لري.

۲ -داچي دانظام له ممکنه نظامو څخه بهترین نظام دي

دادوه اصلونه دفزیو کراتانو لپاره نه جلا کیدونکي دي .

کنه وایي:

طبیعي قانون دهري طبعي پیښي منظم جریان دي چي دطبعیت دخاص نظام مطابق ترسره شوي اوسي او دانظام له ټولو نظامونو څخه بهتر دي ځکه چي دطبیعي او اخلاقي قوانینو ټولګه ده.

# الف :طبیعي نظام

انساني ټولنه  دطبیعت یو جز دي نو باید دطبیعي قوانینو تابع اوسي کوم چي په طبیعت کي حاکم دي. ټولنیز نظام د نړۍ د عمومي نظام یو جز دي  همدارنګه فزیو کرتان اقتصاد دطبیعي مسایلو یو جز ګڼي او اقتصاد د هغه دقوانینو تابع ګڼي نو دوي په تر تیب سره د اقتصاد د علم اساس کیښود.

دفزیوکراتانو موخه دا وه چي دطبیعت په اړه  دمتضادو مطالعاتو څخه پرهیز وکړو

د فزیو کراتانو په اند په انساني ټولنه کي ورته والي او توپیرونه دکوم قرارداد نتیجه نه ده بلکي طبیعي جریان دي که دانسان دطبیعي قوانینو څخه سر غړونه وکړي نو دستونزو سر مخامخ کیږي او دخپل داخلي حساسیت څخه درک کوي چي  په غلطه لار تللي دي.

فزیو کراتان وایي چي طبیعي قوانین  مطلق، نړیوال او نه بدلیدونکي دي .

# ادامه ...

ډاکټر کنه د طبیعت قوانین د انساني ټولني څخه مقدم او د انسانو له ارادي څخه بهر ګڼي او په دي اند دي چي د طبیعت نظام په زمان او مکان کي تغیر نه مومي.

فزیوکراتان دطبعي قوانینو څخه سرغړونه دستونزو سر چینه ګڼي خو تاکید کوي چي که انسانان اقتصادي وسایل دخپل ځان داصلاح لپاره دطبیعي قوانینو څخه په پیروۍ وکاروي پرته له شکه چي د لومړنیو ټولنو د طبیعي حالت څخه به په مرتبو ښه والي وکړي .

په اقتصاد کي یو تن فزیوکرات لوترون د ارزښت د مفهوم په اړه مطالعه وکړه او د نوموړي په اند د توکو ارزښت د هغوي د زیاتوالي او کموالي تابع دي.

# ب :الهي نظام

د ډاکتر کنه په قول ټول خلک او انساني قدرتونه باید د الله تعالي له خوا وضع شوو بې بدلونه او انعطاف نه منونکو قوانینو څخه چي د ممکنه بهترینو قوانینو څخه شمېرل کیږي پرته له شرطه تابعیت او پیروي وکړي.

دفزیوکراتانو په نظر دطبیعت نظام تصافي نه دي رامنځته شوي بلکي دالله تعالي په ارادي سره رامنځته شوي دي. په همدي اساس د بشر د رفاه لپاره د بهترینو قوانینو لرونکي دي. فزیوکراتانو استدلال کاوه چي الله تعالي نه یوازي دکامل توانايي بلکي دکامل ښه والي مظهر هم دي. الله تعالي داسي قوانین نه دي وضع کړي چي دټولني د حالت او د انسانانو په ګټه نه وي.

# ادامه ...

دفزیوکراتانو په نظر عقل یوه وسیله ده چې په مرسته یې الله تعالی طبیعي قوانین او خپله اراده انسانانو ته منعکسوي. که په کوم حالت کې انسانانو ته دا طبیعي قوانین غیر عادلانه څرګندیږي دا د دوی د درک او محدودیت نتیجه ده او نشي کولای چې د هغې په ټولو اړخونو وپوهیږي. د مثال په ډول باران او واوره کیدلی شي چې د مسافرو لپاره ستونزه و اوسي خو د کرنې ځمکې خړوبوي او د حاصلاتو د زیاتوالي لامل کیږي.

# ادامه ...

مهم قوانين چي د فزيوکراتانو له خوا ورته پاملرنه شوي ده په لاندي ډول دي:

1. انسانان بايد دخپل ژوند په خاطر دځمکي له محصولاتو څخه استفاده وکړي (دمصرف قانون )
2. د دي محصولاتو د ترلاسه کولو لپاره بايد کار وکړي ( دکار قانون )
3. (دشخصي مالکيت) حق يعني يو شخص بايد دخپل کار او فعا ليت لپاره د فردي ازادی څخه برخمن شي.
4. (دمنقولو اموالو د مالکيت حق) يعني يو شخص بايد دخپل کار او فعا ليت د ثمر څخه برخمن شي.
5. (دغيرو منقولو اموالو د مالکيت حق ) يعني يو شخص بايد دخپل کار او فعا ليت د تر سره کولو لپاره ځمکه هم لاسته راوړي.

# داقتصادي جريانونو طبقه بندي:

فزيوکراتانو دمرکانتليستانو پر خلاف کوښښ وکړ تر څو طبيعي قانونمندي درک اوکشف کړي چي دانسانانو اقتصادي جريان بي له زمانه او مکانه په هغه پوري تړلي دي.

فزيوکراتانو ددي لپاره چي داقتصادي جريان ميکانيزم په ښه ډول څرګند شي نو فرانسوا کنه اقتصادي جريان پر درو طبقو وويشه.

1. کروندګره يا توليدونکي طبقه (La claase productive )
2. دځمکي خاوندان او مالکان (La classe proprietaire)
3. اقتصادي خدماتي طبقه ( Class Sterile )

# ۱- کروونده ګره طبقه (la classe productive):

په دي طبقه کي هغه اجاره ګر ا و کروندګر شامل دي چي د کروندي ځمکه دخپلي کورنۍ دغړو او شخصي پانګي په مرسته اداره اوکشت کوي او حاصل تر لاسه کوي.

چي څه وخت يي خالص عايد د تولید له مصرف څخه زيات شي نوکومه برخه چي زياته شويده نو هغه داجاري په توګه دځمکي خاوندانو او مالکانو ته ورکول کيږي.

فزيو کراتان په دي نظر وه چي خالص عايد يا اضافي ارزښت يوائي په کرونده کي دخالص توليد په توګه رامنځته کيږي.

# ۲-دځمکي خاوندان او مالکان(La class propriétaire ):

په دي برخه کي باچا،روحانیون او دځمکو خاوندان شامل دي.

دهغوی په نظر څرنګه چي دي طبقي ځمکه دلومړي ځل لپاره د کشت وړ او اباده کړي او د کرني دښه والي لپاره يي ځمکه لتولي نو د هغوي د فعالیت،نوښت او پانګي اچوني د ارزښت او تشویق په ډول باید د کروندی د تولید له خالص عاید څخه برخه تر لاسه کړي.

دځمکي خاوندان توزیع کونکي رول لوبوي ځکه چي هغوي داجاری په توګه ترلاسه شوي عواید دکرنیزو محصولاتو او صنعتي توکو په پیریدلو مصرفوي.

# ۳ -اقتصادي خدماتي طبقه ( Class Sterile ):

داهغه طبقه ده چي دکرنیزو محصولاتو په تولید کي شامل نه دي اوتولید نکوي یعني عبارت له هغوکسانو څخه دي چي د کرني د سکتور څخه خارج یا دباندي کارکوي مثلا مامورین ، دکارخاني یا فابریکې کارګران او صنعتکاران او داسي نور. چي فزیوکراتان دا طبقه بي حاصله (Sterile) یا عقیمه طبقه ګڼي.

فزیوکراتان په دي عقیده وه چي یوازي کرنه د خالص محصول او اضافي ارزښت ایجادونکي ده او نور ټول طبقات چي د کروندي څخه بیرون ساحو کي کار کوي عقیم ( Class Sterile ) دي.

ددي خبري مطلب دا نه دي چي د کروندګرو څخه بغیر د نورو ټولو وګړو کار او فعالیت بي فایدي دي بلکي فزیوکراتان په دي نظر وه چي د هغوي رول په ټولنه کي د شتمنیو حرکت او انتقال تامینول دي.

# دفزيوكراتانو دنظريو اقتصادي او مالي نتيجي:

د فزيوكراتانو دې نظر چي يوازي كرونده د اقتصادي پرمختګ منبع ګڼل كيږي هغوي دي نتيجې ته ورسول چي دولت دنده لري ترڅو د كروندې توليدات تقويه كړي او په خاصه توګه د كرنيزو توكو لپاره مناسب او د منلو وړ نرخونه وټاكي. ددې موخي ترلاسه كولو په خاطر يې دولتونو ته د لاندي تدبيرونو نيول وړانديز كاوه:

1. وړوكي، وروسته پاتي او له فني اړخه ضعيفه واحدونه په موثر توليدي موسسو او تاسيساتو باندې بدل شي.
2. د غلې د بازارونو لپاره د مركانتلستانو تغير نه منونكي مقررات بايد د غله جاتو په ازاده سوداګرۍ بدل شي. په داخل كي بايد د غلو لپاره لوي بازار رامنځته شي چي داخلي ټول توليدونكي ورته بي له مشكل څخه لاس رسي وكړي. د غلو صادراتو ته د ثبات لرونكو او مناسبو قيمتونو په خاطر آزادي وركړل شي او وراداتو ته دې د وچكالۍ او قحطۍ په حالتونو كي اجازه وركړل شي.

# ادامه ...

3. مالیاتي ریفورم باید د داخلي او خصوصي پانګي تشکیل د کرني په ساحه کي تقویه کړي .د فزیوکراتانو د نظر مطابق چي یوازي کرنه د خالص تولید رامنځته کوونکي ده نو دولت باید خپل عواید له همدي خالص تولید څخه ترلاسه کړي. فزیوکراتان د خپلو نظرونو څخه داسي نتیجه اخلي چي په حرفوي برخو (صنعتي او تجارتي) توکو باندي د مالیاتو وضع کول به د اقتصادي تبادلو له لاري د کرني یوي برخي لپاره ستونزه رامنځته کړي نو ښه ده چي د غیر مستقیمو مالیاتو له وضع کولو څخه ډډه وشي. هغوي وړاندیز کوي چي د ځمکي او غلي مالیات په کروندګرو نه بلکي د ځمکي په خاوندانو وضع شي.

# ادامه ...

د فزیوکراتانو په اړه څومره پوه سواست؟

د ځېرکي پاي.

# شپږم څپرکي

## د آزاد بازار طرفداران:

- کلاسیک مکتب
- د کلاسیک مکتب پوهان
- ادم سمیت
- رابرټ مالتوس
- جان باپټیست سي
- ډیویډ ریکارډو
- جان ستوارټ میل

# ادامه...

- د نیو کلاسیک مکتب رامنځته کیدل:
- د نهائیونو انقلاب
- د نهايي نظر مرحلی
- الف: لومړي مرحله
- ستيينلي جونز
- کارل منګر
- ليون والراس
- ب: دويمه مرحله
- الفرد مارشال
- کلارک

# د آزاد بازار رامنځته کیدل:

ازاد بازار په عموم کي په دوو دورو کي رامنځته سوي دي:

الف: کلاسیک مکتب

ب: نیو کلاسیک مکتب چي اصلا د کلاسیک نظریاتو زیږنده ده.

# کلاسیک مکتب:

دا مکتب د اتلسمي پیړۍ د پاي څخه د نولسمي پیړۍ تر نیمایي پوري وخت په بر کي نیسي چي دا مکتب ده:

ډیویډ هیوم

ادم سمیت

رابرت مالتوس

جان باپتیست سي

ډیویډ ریکارډو

جوهان هنریش وون تونن

او جان ستورات میل لخوا مخ ته وړل سوي دي.

# ادامه...

د کلاسیک مکتب  پیروان اکثرا د نظریاتو په بحث،موضوعاتو او څیړنو کي جلا نظریي لري خو د اساسي نظریو،اقتصادي معلوماتو د پیژندني او نتایجو ترلاسه کولو په نظر کي نیولو سره یي یو واحد مکتب ګنلي سو.

کلاسیک مکتب د تمدن او صنعتي نړۍ اقتصادي مناسباتو او جریانونو اساس ګڼل کیږي .

د نوموړي مکتب اساس په انګلستان کي ایښودل سوي دي  په حقیقت کي کلاسیک مکتب په انګلستان کي په طبیعي شکل پرمختګ وکړ.

# ادامه...

خو په فرانسه کي دولت ددي مکتب د محرک او تشویق کوونکي په توګه رول لوبوي چي د ځینو متقابلو تاثیراتو او د هغو اقتصادي اړتیاوو ته په کتو سره یي په فرانسه کي پرمختګ وکړ.

کلیوالو ددي مکتب په رامنځته کیدو سره د صنعتي کیدو په موخه ښارونو ته مخه کړه.

# داخلاق،اقتصاد او سیاست په ترکیب ولاړ نظام:

**اخلاق:** اخلاقو ته د کلاسیکو لخوا ډیره زیاته پاملرنه سوي ده

په کلاسیک لیبرالیزم مکتب کي د څېړني اصلي موضوع د انسانانو روش دي چي د طبیعي نظام څخه منشا اخلي.

د ادم سمیت په نظریاتو کي اخلاق تر دي اندازي مهم دي چي اخلاقي اصول د انسانانو په روش باندي حاکم ګڼي چي په دي برخه کي د ادم سمیت اثار لکه د ملتونو شتمني د اخلاقي احساس تیوري او فلسفي موضوعاتو په اړه رساله د یادوني وړ ده.

# ادامه...

**اقتصاد:** د هر کس لخوا ګټه غوښتنه یو طبیعي او تغیر نه منونکي واقعیت دي چي د داخلي او بیروني تجاربو په مرسته تري انسان خبرتیا پیدا کوي شخصي ګټه غوښتنه د اشتراکي امر او نظریي سره کومه اړیکه نه لري او د زور او فشار په واسطه له منځه نه وړل کیږي

د افرادو هڅي او کوښښونه د شخصي ګټي د ترلاسه کولو لپاره هیڅکله د ټولني په ضرر نسي تمامیدلي.

# ادامه...

**سياست:** د هر انسان طبيعي او ازاد پرېښودل د زياتي ګټي او مختلفو سوداګريو د رامنځته كولو لپاره تر څو د رفاه او هوسايني لامل سي د ازاد بازار مهم سياست او پاليسي ده.

# د فرد او ټولني کټه:

کلاسیک پلوي ددي لپاره چي د افرادو ګټي د ټولني لپاره ګټوري تمامي سي نو د افرادو د ګټي لپاره څلور شرطونه لري:

1. مرسته، همدردي او دزړه یووالي چي د عدالت مفهوم ورڅخه اخیستلای سو
2. د ازادو اصولو او مقرراتو قایمول
3. د اثباتي قوانینو موجودیت چي د هغي رعایت کول د یو قوي دولت شتوالي اړین کوي
4. د سیالۍ موجودیت

# ادم سمیت ۱۷۲۳-۱۷۹۵:

ادم سمیت په سکاتلیند کې زیږیدلی لومړنی زده کړې یې په ادیمبورګ کې کړې په ۱۷۵۹
کال کې یې د اخلاقي احساساتو په نوم کتاب خپور کړی بیا سویس او فرانسې ته ولاړ او
وروسته یې ۱۷۷۶ کال کې د ملتونو شتمنی په نوم کتاب ولیکی چې ده ته یې ډیر زیات
شهرت ور نصیب کړ چې د سام ویلسن په وینا د ملتونو شتمنی د نوی اقتصاد پیل هم
دی.

د ادم سمیت په نظر اقتصادي فعالیتونه د فرد د اقتصادي ازادۍ په صورت کې په ښه
توګه ترسره کیږي او د اقتصادي رفاه لامل کیږي .

# د ادم سمیت اقتصادي نظریات:

1. د طبیعي ازادۍ سیاست
2. مولدیت
3. د کار ویش
4. د کار ویش پراختیا
5. د دولت دنده
6. قیمت او ارزښت
7. د عوایدو ویش
8. د منافعو مطابقت
9. نړیواله سوداګري
10. هغه نظریات چي د سوداګرو د نظریاتو په پیروي پیشنهاد سوي.
11. اقتصادي پرمختګ

# د طبیعي ازادۍ سیاست:

د طبیعي ازادۍ سیاست د انسان او طبیعت په اړه د ادم سمیت نظریات څرګندوي د ازادي سیالۍ فکر د ادم سمیت د اقتصادي قانون اول او اخر حرف دي.

د یادوني وړ ده چي دا نظریه لومړي ځل په فرانسه کي رامنځته سوه خو سیستماټیک او متواتر استدلال یي ادم سمیت کړي.

# ادامه...

د ادم سمیت له نظره د پرېږدي چي وکړي مفهوم:

**اول:** د ټولو هغه تدبیرونو او قوانینو له منځه وړل چي د کار حرکت یي محدود کاوه چي ددي کار موخه یي د پانګوالو لپاره د ازادۍ تامینول وو.

# ادامه...

**دویم:** د ځمکي د ازادانه سوداګرۍ طرفداري:

نومورې د لویو ملکیتونو د لرلو سره مخالف وو او یوه طرحه یي وړاندي کړه چي لمخي یي د میراثي ځمکو ویشل منع وو.

ادم سمیت غوښتل ځمکه د هغه چا سره وي چي اعظمي استفاده ورڅخه وکولای سي یا یي د انتقال سره موافق اوسي.

صرف ددي لپاره چي پانګوال په کرنه کي پانګوالي پراخه کړي.

# ادامه...

**دریم :**

ادم سمیت ددولت لخوا د داخلي صنعت او سوداګرۍ د تنظیم د اساساتو د لمنځه وړلو غوښتونکي وو.

**څلورم:**

ادم سمیت د انګلستان بهرني سوداګرۍ باندي نیوکه وکړه او دبهرنۍ سوداګرۍ لپاره یي طرحه وړاندي کړه ادم سمیت د مرکنتلیستانو په سیاست په نیوکي سره وویل چي ددوي کړني د ملت دګټو لپاره نه بلکي د یو خاص سوداګریز ګروپ د ګټو لپاره دي.

# مولدیت:

مولدیت او ګټوري د انسانانو په ژوند مستقیم تاثیر لري. وروسته پاته ټولني سره لدي چي ټول غړي يي کار کوي خو د فقر سره مخامخ دي متمدني ټولني سره لدي چي ټول غړي يي کار نه کوي يا لږ کار کوي په مراتبو ثروتمند دي ددي توپير لامل په متمدنو ټولنو کي د خلګو د کار په مولديت کي زياتوالي دي  چي اصلا ددي مولديت اصلي لامل د کار ويش دي.

# د کار ویش:

د کار ویش یو نظام او وسیله ده چي د هغي په مرسته بیله زحمته او په طبیعي توګه د اړتیا وړ محصولاتو د تولید په برخه کي د انسانانو تر منځ همکاري صورت نیسي.

ادم سمیت د فرنسوا کنه دغه نظر چي وایي"کرنه د دولت او ملت د ټولو غړو د هر ډول شتمني سرچینه ده " ردوي  د ادم سمیت په اند د هر ملت کلني کار لومړني او اساسي منبع ده چي د هغوي لپاره ګټور او د اړتیا وړ شیان برابروي او ملت هغه مصرفوي چي د کار مستقیم محصول او ټول هغه څه پکښي شامليږي چي په مرسته یي د بهر څخه شیان خریداري کوو.

دده د نظر څخه دا څرګندیږي چي په عمومي توګه کار د تولید وسیله ده (نه یواځي ځمکه) چي په دي توګه کومي خاصي ډلي ته امتیاز نه ورکول کیږي بلکي د ټول ملت کار د ثروت تولیدوونکي دي .

# ادامه...

د کار د ویش پر اړه د ادم سمیت مثال د سنجاق د جوړولو په برخه کې:

د سنجاق جوړولو په فابریکه کې یو کارګر سیم پرې کوي بل کارګر سیم سیده کوي، دریم کارګر سیده سوې سیم پرې کوي،څلورم یې څوکه تیره کوي،پنځم کارګر یې سوهان کوي چې د سنجاق د سر لپاره یې اماده کړي او حتي چې د سنجاق ټکول او ګرد کول یې یو کار دی او د هغې سپینول او صافول بل کار دی ان تر دې چې د سنجاق ټکول جلا کار او شغل دی.

نو ځکه ادم سمیت وایي چې د کار د ویش په وسیله بې زحمته تولید کولای سو.

# ادامه...

ادم سمیت د کار د ویش په نتیجه کي د تولید زیاتوالي په دریو شیانو پوري مربوطوي

۱:په ثابت کار کي دمصروفیت په صورت کي د مهارت ترلاسه کول

۲ :د کار د نه بدلیدو په صورت کي د وخت صرفه جويي.

۳ :اختراعات او اصلاحات په یو کار کي د بوخت کیدلو سره په روش او تولیدي وسایلو کي رامنځته کيږي .

# د کار ویش حدود او سرحدات:

د ادم سمیت له نظره د کار ویش حدود او سرحدات چي د کار ویش ورسره دريږي دوه دي:

1. د بازار د پراختیا اندازه: که بازار ډير کوچني وي هیڅوک نه تشویق کیږي چي خپل وخت په یو کار ولګوي ځکه په کوچني بازار کي ممکن تولیدوونکي زیات اوسي.
2. کیفیت دي چي د ادم سمیت په نظر د کار ویش محدود کوي او د پانګي مخکي له مخکي جمع اوري ده.

# د کار ویش د پراختیا شرایط:

ددي لپاره چي د کار ویش عمومیت پیداکړي او په هر ځاي کي اجرا او عملي سي نو مختلف شرایط ورته اړین چي عبارت دي له:

۱ :د یو قانوني حکومت شتوالي چي د خلکو مالي او ځاني امنیت تامین کړي

۲ :د مالیاتو وضع کولو کي اعتدال

۳ :د بازار پراختیا

۴ :بانکي کفایت

# د دولت دنده:

دادم سمیت په نظر د دولت عمده دنده د امنیت او عدالت تامینول او دداسي موسساتو جوړول او ساتل دي چي نور خلګ يي د جوړولو توان نه لري.

ادم سمیت په لومړیو کي ددولت د هر ډول لاسوهني مخالف وو خو وروسته يي خپل نظريات په ځينو مواردو کي تعديل کړل چي عبارت دي له:

۱ :هغه تدابیر چي د ازادي د اصولو د اجرا لپاره اړين دي.

۲:هغه تدابیر چي د اقتصادي چارو د ازاد جريان د بنديدو لپاره اړين دي .

# ادامه...

۱:هغه تدابیر چي د ازادي د اصولو د اجرا لپاره اړین دي:

دولت باید د یو شمیر تدابیرو په مرسته د ازاد اقتصادي فعالیت ګټور او طبیعي جریان تامین او تضمین کړي په دي برخه کي ادم سمیت د د فردي ازادي دساتلو په اړه ددولت په لاسونو باوري دي.

۲ :هغه تدبیرونه چي د اقتصادي چارو د ازاد جریان د بندیدو لپاره اړین دي:

د ادم سمیت په نظر هغه تولني چي د ډیر وختونه په اقتصادي چارو کي ددولت لاسوهنه رواج وو په ناخاپي توګه د طبیعي ازادي ته د صنعت او سوداګري ورګرځیدل ممکن د خطراتو خالي نه وي او ددي مشکلاتو د حل لپاره ددولت لاسوهنه اړینه ده او همدارنګه د سوداګري او سیالي د ازادي په صورت کي که ځیني موسسات وتړل سي او کاریګر یي وزګار سي نو دولت د يي د کاریګرو په ملاتړ موظف دي ادم سمیت دغه تدابیر ځکه روښانه کوي چي د پانګي کامله ازادي د پانګي د جریان په ښه شکل تامینونکي نه ده .

# قیمت او ارزښت:

ارزښت: ادم سمیت د توکو ارزښت په دوه ډوله سره بیل کړ چي یو یي استفادوي ارزښت دي او بل یي تبادلوي ارزښت دي چي ادم سمیت ډیره توجه تبادلوي ارزښت ته وکړه د نوموي په اند کار د هر توکي تبادلوي ارزښت دي خو په متمدنو هیوادونو کي لږ توکي دي چي د هغوي ارزښت کار پوري تړلي دي خو په کرنه کي د محصولاتو ارزښت په طبیعت او کار پوري تړلي.

نو د ادم سمیت په نظر کار د ارزښت معیار او اساس دي .

# ادامه...

قیمت: د ادم سمیت نظریاتو ته په کتو سره قیمت د دوو شیانو تابع دي

1. عرضه
2. تقاضا

# د عوایدو ویش:

ادم سمیت دري ډوله عوایدو ته پاملرنه کړي:

۱ :دلاس مزد د کار د عامل د قیمت په معني

۲ :د کار ورکوونکي سود د پانګي د عاید په معني

۳ :د مالک سهم (Rent)د ځمکي د عاید په معني

د عوایدو د ویش په برخه کي د ادم سمیت نظریات د توجه وړ نه دي خو ډیر یي دپامه هم نه سو غورځولاي ځکه دده نظریه د عوایدو په تشکیل او بدلون کي د وخت اهمیت پاملرنه کړي که چي د پرمختګ او رکود ته یي پاملرنه کړي .

# د عوایدو ویش:

ادم سمیت دري ډوله عوایدو ته پاملرنه کړي:

۱ :دلاس مزد د کار د عامل د قیمت په معني

۲ :د کار ورکوونکي سود د پانګي د عاید په معني

۳ :د مالک سهم (Rent)د ځمکي د عاید په معني

د عوایدو د ویش په برخه کي د ادم سمیت نظریات د توجه وړ نه دي خو ډیر یي دپامه هم نه سو غورځولاي ځکه دده نظریي د عوایدو په تشکیل او بدلون کي د وخت اهمیت ته پاملرنه کړي .

# ادامه...

۱ :دلاس مزد:

مزد د هر کارکوونکي د تولیدي توانايي قیمت دي.

کله چي اقتصاد د رکود په حالت کي يي نو مزد تر هغي زیاتوالي نه کوي تر څو پانګه زیاته نسي او کله چي اقتصاد د پرمختګ په حال کي وي نو د پانګي د زیاتوالي له امله مزد د کاریګر د ورځني ضرورت څخه هم زیات وي .

# ادامه...

۲ :د کار ورکوونکي سود:

د ادم سمیت په نظر د کار ورکوونکي سود تل د بدلون په حالت کي وي چي پيژندل او براورد يي ستونزمن کار دي .خویيا هم دوه حالته يي د پاملرني وړ دي

۱ :په یو هیواد کي چي اقتصاد يي د پرمختګ په حالت کي وي نو د پانګي زياتوالي د مزد د زياتوالي لامل کيږي نو د صنعت د خاوندانو او مديرانو تر منځ سيالي د سود نرخ د کموالي لامل کيږي.

۲ :کوم هیواد چي اقتصاد يي د رکود په حالت کي او پانګه د نقصان په حالت کي مزد راټيټيږي ددي سره د توليد لګښتونه کميږي او دي سره د کاروذکوونکي سود زياتيږي .

# ادامه...

۳ :د مالک برخه:

ادم سمیت د مالک سهم او اجاري تر منځ فرق ته قایل نه وو او همدارنګه دي په دي باوري دي چي د مالک ونډه د قیمت په ټاکلو کي د مزد او کاروركوونكو د سود په اندازه رول نه لري د مزد او کاروركوونكو سود کي بدلونونه به قیمتونو کي د بدلونون سبب ګرځي خو مالک ونډه د قیمتونو د زیاتوالي او کموالي سره کمیږي او زیاتیږي.

ادم سمیت د مالک د ونډي سرچینه دقیقه نه ده تشریح کړي او دلته د فزیوكراتانو د نظر پیرو وو انسان او طبیعت د تولید په کار کي یو له بل سره مرسته کوي چي کار د لګښت ایجاب نه کوي خو حاصل یي ځانګړي ارزښت لرونكي وي .

# د منافعو مطابقت:

د ادم سمیت په نظر د ځمکي خاوندانو او صنایعو کارګرانو ګټي د ملي ګټو پوري تړلي او مطابقت کوي خو

د سوداګرو او صنایعو خاوندانو ګټي د هیواد د ملي ګټو سره مخالف،توپیر او مطابقت نه کوي.

# نړیواله سوداګري

ادم سمیت د هیوادونو ترمنځ د ازادي سوداګري طرفدار وو.

نوموړي وايي هر هیواد باید په داخل کې داسي څه تولید نه کړي چي د بهر څخه په واردولو ارزانه تمامیږي.

ازاده سوداګري په نړیواله کچه د کار د ویش د پراختیا ښودنه کوي او د نړیوالي سوداګري په مرسته کولاي سو چي اضافي محصولات نورو هیوادونو ته واستوو او خرڅلاو بازار په دي توګه پراختیا کوي چي نتیجه یي د کار ویش او د صادرونکي هیواد تولیدي توانایي زیاتوالي دي .

# ادامه...

ادم سمیت په نړیواله سوداګري کي د ګمرکي بندیزونو مخالف وو

خو په هغه توکو چي د بهر څخه واردیږي ددي لپاره چي داخلي توکي ورسره سیالي وکړلي سي باید مالیات ورباند وضع سي.

# هغه نظریات چې د سوداګرو د نظریاتو په پیروي پیشنهاد سوي:

ادم سمیت د قیمتي فلزاتو د جمعواري او د طلا او نقري د پیسو په ډول ردوي او د نوټونو رواجول د پرداخت د وسیلي په توګه تاییدوي او د اسکناسو په نشرولو کې بې احتیاطي د قیمتي فلزاتو د هیواد وتلو دسبب په توګه پيژني کوم چې خطرناکې پایلي لرلې سي لکه: د جنګ په شرایطو کې بیلابیل مشکلات یا هم ددښمن تسلط په قیمتي ذخایرو همدا د نظر د ادم سمیت په نظریاتو کې د سوداګرو د نظریاتو قوي تایید دي.

# ادامه...

ادم سمیت د فزیوکراتانو په ډول سوله ایز فکر نه درلود او جنګ ته یې د احترام وړ او صنعت ته رونق ورکوونکي عامل په توګه کتل .

# اقتصادي پرمختیا:

ادم سمیت د اقتصادي پرمختیا لپاره د پانګي په رول زیات تاکید کړي د نوموړي په اند:

د پانګي په مرسته بازار ته پراختیا ورکول کیږي

اختراعات او نوي والي سره پرمختګ تیزوالي کوي

د پانګي په زیاتوالي سره فني پرمختګ صورت نیسي

د پانګي په زیاتوالي سره د مزدورانو په تقاضا او عرضه کي زیاتوالي راځي.

# ادامه...

د ادم سمیت په اند د اقتصادي پرمختیا عمل تر یو حده دوام مومي تر څو

چي تول وسایل په کار نه وي اچول سوي د پرمختیا عمل دوام کوي

کله چي تول وسایل په کار واچول سي نو دي سره د پرمختیا عمل دریږي چي دي ته ادم سمیت د ساکن حالت نوم ورکړي.

# جان باپتیست سي (۱۸۳۲_۱۷۶۷)

سي په ۱۷۶۷ کال کې د لیون په ښار کې زیږیدلی

په اروپا کې یې د ادم سمیت نظریات خپاره کړي د ادم سمیت د کتاب په لوستلو سره یې د هغه نظریات د اقتصاد د علم اساس وګرځول

نوموړي وایي ددي: ددي اثر په لوستلو سره انسان پوهیږي چې د ادم سمیت مخکې د اقتصاد علم شتون نه درلود.

# د سي کاري مسلک:

لومړي ځل يي د فرانسي په يو بانک او بيمي شرکت کي کار کاوه، وروسته يي د يو څه وخت لپاره د خبريال دنده ترسره کول بيا د فرانسي مقننه مجلس غړي سو.

د سياست وروسته سودا ګري او صنعت ته يي مخ واړوه د فرانسي د نساجي صنعت کي د پام وړ رول ولوباوه بيا يي د اوبدلو کارخانه جوړه کړه په ۱۸۰۶کي په ۱۸۱۹کي د صنعتي اقتصاد د تدريس مامور سو او په ۱۸۳۰کال کي د فرانسي په کالج کي استاد سو.

# د جان باپتیست سي اثار:

۱ :په ۱۸۰۳کي د traite de economie politique

۲ :په ۱۸۱۷کال کي د اقتصاد اصول

۳ :د ۱۸۲۸خخه تر ۱۸۳۰پوري يي د اقتصاد علم مکمله دوره تر عنوان لاندي په شپږ جلدونو کي خپور کړ.

# ادامه...

نوموړي د اقتصاد علم د تولید، تبادلي،ویش او مصرف له برخو متشکل ګڼي
هغه اصطلاح چي د ادم سمیت لپاره مجهوله وه هغه د سي په واسطه مخته راغلل چي
عبارت ده له د ثروتونو د قوانینو د علم څخه.

سي د ادم سمیت د نظریاتو مفسر وو خو د هغي تر څنګ ځیني داسي نور نظریات یي
هم وړاندي کړي چي د ادم سمیت پام نه وو ورته.

د سي په اند اقتصاد د ملتونو په شتمني باندي د حاکمو قوانینو د بیان علم دي او
دهغي اصول باید هر ډول مذهبي اخلاقي او سیاسي ملاحظاتو څخه جلا اوسي .

# د جان باپټیسټ سي نظریات:

1. کټورتیا
2. په اقتصاد کي د صنعت د مقام ښه والي
3. دولت
4. د بازار قانون

# ګټورتیا:

سي د توکو د مادي موجودیت ځاي د توکو ګټورتیا ته پاملرنه کوي او تولید د مادي شیانو جوړول نه بلکي د فایدي رامنځته کول ګڼي.

د سي په ان  د توکو تولید د ګټورتیا او فایدي رامنځته کول دي یعني د هغوي په داسي شکل برابرول دي چي زموږ اړتیاوي پوره کړي او زموږ د غوښتني سره مطابقت ولري.

د سي په اند سود د پانګي او اجاره د ځمکي طبیعي محصول دي او د ټولنیز نظم طبقاتي جوړښت او د ملکیت شکل سره اړیکه نه لري، د مثال په توګه ځنګه چي د توتو ونه توت ورکوي او د سیبو ونه سیب همداسي پانګه سود ورکوي .

# ادامه...

نوموړي د ګټورتیا په برخه کي هر فعالیت چي د انسان لپاره د فایدي او خدمت منشي وګرځي د اقتصادي ګټورتیا لرونکي دي.

همدارنګه دي د فزیوکراتانو نظر د د ګټي د لومړي توب په برخه کي ردوي چي فزیوکراتانو به ویل کرنه د ګټورتیا په برخه کي لومړیتوب لري بلکي دده په اند سوداګري او صنعت په اقتصادي فعالیتونو کي د ګټورتیا لومړیتوب دي .

# په اقتصاد کي د صنعت د مقام ښه والي:

د نوموړي په اند اقتصادي پرمختیا د دري لاملونو پوري تړلي ده

١ :د پانګي زیاتوالي.

٢ :د فنونو پرمختګ.

٣ :د کار فرما اصالت،دنده او اقتصادي شخصیت.

چي له دي برخي پانګه ادم سمیت واضح کړي وه

د فنونو پرمختګ لا تراوسه نه وو روښانه سوي

او د کارفرما اصالت د لومړي ځل لپاره د باپټیسټ لخوا وړاندي سو.

# ادامه...

کار فرما د تولید د عواملو د ترکیب او اداره کولو مسوول او عامل دي او په نتیجه کې د ژوندانه او اقتصادي فعالیتونو د ثقل مرکز دي.

د کار فرما فعالیت په دوو لورو او دوو بازارونو کې صورت نیسي:

۱ :د تولید د عواملو په بازار کې چې د کارفرما لخوا د هغې تهیه او خریداري مختلف عواید رامنځته کوي لکه:مزد،حقوق،گټه او اجاره.

۲ :د خرڅلاو بازار چې په مرسته یې تولید سوي توکي مصرف کوونکي ته عرضه کیږي.

د عرضې او تقاضا مطابقت د کار فرما دنده ده.

# دولت:

سي دولت د ناصالحه کارفرما په توګه پيژني چي د بايد په خپلو لګښتونو کي کموالي راولي تر څو د ثروت په رامنځته کوونکو باندي له حده زيات ماليات وضع نه کړي.

د سي په اند ددولت د لاسوهني زيان په سوداګري کي د صنعت او په صنعت کي د د کرني په پرتله زيات دي.

# د بازار قانون:

دبازار مشهور قانون کولاي سو په لاندي توګه خلاصه کولاي سو:

توکي او خدمات یوازي په توکو اوخدماتو بدلولاي یا په بل عبارت:

پیسي د معاملاتو لپاره د وسیلي پرته کوم بل څه نه دي او د هغي ترلاسه کول د توک او خدماتو د ترلاسه کولو په خاطر صورت نیسي .

# د بازار د قانون پايلي:

الف:د پيسو د کموالي پديده بيروني شتو نه لري.

ب:پيسي داسي وسيله ده چي د يوه توکي د خرڅلاوحالت د بل توکي د خريد د حالت سره برابروي په دي توګه پخپله د خريد قوه نسي شميرل کيدلي.

# دبازار د قانون په اساس څلور اقتصادي نظريي وړاندي سوي:

۱ :د مصرف څخه د تولید زیاتوالي په صورت کي اقتصادي بحران رامنځته کیدل.

۲ :د نړیوالي سوداګري نظریه.

۳ :د خرید قوي نظریه.

۴ :د اقتصادي هماهنګي نظریه.

# رابرټ مالتوس:

رابرټ مالتوس په ۱۷۶۶ کال په انګلستان کې زیربیدلي په کمبریج کې یې زده کړې دي تر هغې وروسته په روحانیون کې داخل سو او وروسته د غربي هند په مدرسه کې استاد سو.

# د رابرټ مالتوس اثار:

۱ :د غله جاتو پوري اړینو قوانینو په اړه ملاحظات

۲ :د ملکیتونو د ګټي ماهیت او زیاتوالي

۳ :د اقتصاد اصول

۴ :د نفوسو د اساساتو په اړه څیړنه

# د مالتوس نظريات:

مالتوس د اقتصادي مسايلو په اړه کومه نوي نظريه ندي وړاندي خو بيا يي هم ځيني نظريي د کتني وړ دي:

١ :د نفوسو د زياتوالي په اړه د مالتوس نظريه:

مالتوس د نفوسو زياتوالي د بدبختيو د لامل په توګه پيژني.

د مالتوس په نظر د نفوسو زياتوالي او د ثروت د ډيريدلو تر منځ اساسي بي توازني شتون لري دي وايي:

نفوس په هندسي تصاعد زياتيږي

ثروت او د تغذيي وسايل په حسابي تصاعد زياتيږي.

# ډیوید ریکارډو۱۷۲۲-۱۸۲۳:

ډیوید ریکاردو په ۱۷۷۲کال کي په لندن کي زیږیدلي. دریکاردو پلار یهودي وو او په سوداګریزو چارو کي یي زیات لاس رسي درلود.

خو ریکاردو د مسیحي پیغلي سره د میني له امله مسیحي سو او د مذهب په بدلولو سره له کورني څخه جلا سو.

# د ریکاردو اثار:

1. په ۱۸۰۹ کي د طلايي ميلي د قيمت لوړوالي او د بانکنوټونو د ارزښت د تنزيل دليل تر عنوان لاندي.
2. په ۱۸۱۱ کي د اقا بوزانکا تجربي ملاحظاتو ته جواب تر عنوان لاندي.
3. په ۱۸۱۵ کال کي د پانګي په سود کي د غنمو د ناچيزه قيمت تاثير.
4. په ۱۸۱۷ کال کي د سياسي اقتصاد.
5. د اقتصاد علم او مالياتو اساسات.
6. د پيسو مطمين او اقتصادي جريان تامينولو په اړه پيشنهادونه.

# د ریکاردو نظریات:

1. د ارزښت نظریه
2. مالیکانه ګټه یا د ځمکي عواید
3. د عوایدو ویش
4. پیسي
5. پانګه
6. نړیواله سوداګري

# د ارزښت نظریه:

د ارزښت په برخه کې ریکاردو د ادم سمیت هم نظره وو د ادم سمیت نظر دا وو چې د ارزښت اساس د تولید واقعي لګښتونه دي چې د کار او پانګې څخه تشکیل دي خو باید پوه سو چې پانګه خپله د کار نتیجه ده نو ځکه کار د ارزښت یواځیني منبع ده.

# ادامه...

د ریکاردو په نظر ارزښت په دوه ډوله دي:

1. مصرفي ارزښت :د توکي فایده او کمبود څرګندوي.
2. تبادلوي ارزښت:چي څرګندوونکي يي کار دي

# مالیکانه ګټه:

د ریکاردو په نظر مالیکانه ګټه په ځینو مواردو پوري تړلي ده چي مهم یي بازار ته په صحیح وخت کي داخلیدل دي.

1. هغه کسان چي مخکي بازار ته راځي معموله ښه ځمکي انتخابوي چي ډیر حاصل تر لاسه کړي.
2. هغه کسان چي وروسته بازار ته راځي معموله حاصل خیزي ځمکي په لاس نه ورځي زیات لګښتونه تر سره کوي او ګټه یي کمه وي .

# د عوایدو ویش:

د ریکاردو په نظر مالکین د نورو ټولنیزو ګروپونو په پرتله د ویش له نتایجو څخه زیات برخمن دي د هغوي ګټه د سود او مزد خاوندانو له ګټي سره مخالفت کي قرار لري .

# پیسې:

د پیسو په برخه کې د ریکاردو نظر د طلايي پیسو معیار په حالت باندې اتکا لري د ده په اند طلا  په دوران کې د موجوده کاغذي پیسو ضمانت کوي دده په اند طلا یا هم کوم بل توکي د کوم شي ارزښت نسي ټاکلي.
دد په اند پیسې د یو توکي په ډول د خپل ارزښت کمیدلو سره د مزد زیاتوالي رامنځته کوي چې د توکو د قیمتونو لوړیدل ورسره بدرګه دي .

# پانګه:

د ریکاردو په نظر پانګه د هیواد د دارایي یوه برخه ده چي په تولید کي کارول کیږي چي د غلو،توکو،وسایلو،خامو موادو،ماشین او نورو څخه جوړه ده چي د تولید د جریان لپاره اړینه ده.

د نوموړي په اند په مختلفو برخو کي د پانګي لګول په مختلفو ډولونو سره ګټه رامنځته کوي.

# نړیواله سوداګري:

که یو هیواد وکولی سي د اړتیا وړ توکي پخپله ارزانه تولید کړي خو بیا هم د نورو هیوادونو سره په سوداګري کي د هر هیواد ګټه ده .

# جان ستوارټ میل ۱۸۰۶-۱۸۷۳:

میل د سیاسي اقتصادي نظامو تکمیلوونکي دي د هغه پلار جیمز میل هم یو اقتصاد پوه وو او دریکاردو د نږدي دوستانو څخه وو.

# د ستوارت میل اقتصادي نظریات:

1. د ارزښت تیوري
2. پیسې
3. تولیدي کار
4. د نفوس نظریه
5. پانګه
6. د عرضې او تقاضا قانون
7. د ارزښت نظریه
8. د مزد قانون
9. د اجارې قانون
10. د نړیوالو تبادلې قانون
11. د میل ټولنیزه او مختلطه برنامه

# د ارزښت تیوري:

میل خپل پنځه جلده کتاب ددریم جلد اول څپرکي کي د تبادلي او مصرفي ارزښت مفهومونه ته اشاره کړي د همدي کتاب په څلورم څپرکي کي د ریکاردو نظر ته کتنه کوي چي وايي:

کار د ارزښت د زیاتوالي اساس دي د نوموړي په اند د ارزښت په بدلون کي کار لومړي درجه رول لوبوي .

# پیسې:

میل د پیسو د مقداري نظریې څخه پیروي کوي او وایي:

کله چې نور شرایط ثابت وي نو دپیسو ارزښت د پیسو د مقدار سره معکوسه رابطه غوره کوي یعني

(د پیسو په مقدار کې زیاتوالي د پیسو ارزښت کموي او بر عکس د پیسو د مقدار کموالي د پیسو ارزښت زیاتوي)

# تولیدي کار:

په دي برخه کي میل د ادم سمیت هم نظره وو:

نوموړي ذکر کوي چي یوازي تولیدي کار شتمني ایجادوي.

خو یوه نوي خبره یي پکښي کړي او وایي :

چي د ملکیت ساتنه او د زده کړو ترلاسه کولو لپاره کار چي د ذخایرو د زیاتوالي لامل کیږي هم تولیدي کار شمیرل کیږي .

# د نفوسو نظريه:

په دي نظريه کي ميل د مالتوس همفکره وو خو يوه نوي موضوع چي ده پکښي رامنځته کړه اخلاقي لوري ته يي پاملرنه وکړه:

چي دا اخلاقي لوري د ښځو ازادي ته احترام وو چي د موروالي دردونه پرته له مشوري وربانديي تحميل کيږي.

د نوموړي په اند ښځه هيڅکله د نفوس په زياتوالي کي رول نه لري.

دده په اند دولت بايد د بيوزلو د واده په قانوني ډول مخنيوي وکړي .

# پانګه:

میل خپل د لومړي کتاب د اول څخه تر شپږم څپرکي پوري د پانګي تیوري ته مشخص کړي نوموړي پانګه د پخواني کار د محصول د جمع اوري شوي ذخیري په توګه پیژني.

د کتاب په پنځم څپرکي کي د پانګي په اړه په زړه پوري وضاحت ورکوي:

کله چي مالدار اضافه غیر تولیدي لګښتونه ونه لري نو پانګه زیاتوالي کوي چي د پانګي اچوني د اساس په توګه د استخدام کچه زیاتوي او بیکاري له منځه وړي .

# د عرضي او تقاضا قانون:

دا قانون د محصولاتو او دثروت(کار،پانګه او ځمکه)د توليدي خدماتو د ارزښت معلومولو ترتيب بيانوي.

دده په اند قيمت د تقاضا سره مستقيم او د عرضي سره معکوسه رابطه لري.

د نوموړي په اند که قيمت په عرضه او تقاضا کي بدلون راوړي سي نو عرضه او تقاضا هم په قيمت کي بدلون راوړلاي سي.

د عرضي او تقاضا په قانون کي ميل يوي مهمي موضوع ته اشاره کوي چي ارزښت دي او د ارزښت ريښه د نوموړي په اند د توليد لګښتونه دي.

# د ارزښت قانون:

د عرضي او تقاضا د قانون په اساس ارزښت په دوه ډوله دي

1. موقت او بدلیدونکي ارزښت چي د عرضي او تقاضا تابع دي.
2. طبیعي او ثابت ارزښت چي د تولید د لګښتونو تابع دي.

او میل دا قانون د ارزښت د کامل قانون په توګه پیژني .

# د مزد قانون:

د ارزښت قانون په مزد یا د کار قیمت باندي هم تطبیق کیږي چي دا قانون مزد د دوو قاعدو تابع کړي:

1. جاري مزد
2. طبیعي یا اړین مزد

# ادامه...

1. جاري مزد:

دا مزد د عرضي او تقاضا د قانون تابع دي

د عرضي څخه موخه دلته د کارګرانو په کار ګمارلو لپاره د موجوده پانګي مقدار دي.

يعني د پانګي او کارګرانو نسبت مزد ټاکي.

د تقاضا څخه موخه د کارکوونکو شمير دي چي د مصروفيت په لټه کي دي يعني که چيري دوه کار ورکوونکي د يو کارکوونکي په لټه کي وي مزد زياتيږي او برعکس که چيري کارکوونکي دوه او کار ورکوونکي يو اوسي مزد کميږي .

# ادامه...

2. طبیعي یا اړین مزد:

د کارګر تولیدي لګښتونه دي یعنې د کارګر د ژوند د دوام لپاره اړین لګښتونه دي او جاري مزد تل د عرضې او تقاضا په اساس د هغې په شاوخوا کې نوسان لري.

ددې قانون له مخې مزد نه یوازې د کارګر له اختیاره وتلې بلکې هیڅ قانوني لاسوهنه، دولتي او غیر دولتي تاسیسات او هیڅ اقتصادي نظام د هغې په حالت کې بدلون نشي راوستلې.

خو په دوه حالاتو کې یې بدلون ممکن دی:

1. د کار د تقاضا لپاره عرضه سوي پانګه
2. د کار غوښتونکو او کارکوونکو شمیر

# د اجاري قانون:

د اجاري په قانون کي ميل و يوي موضوع ته زياته پاملرنه کوي چي د لګښتونو کموالي دي.

هر څومره چي د ځمکي د کرني لګښتونه د فابريکي د توليد لګښتونه او يا هم داسي نور لګښتونه چي د توکو يا محصولاتو د رامنځته کولو لپاره اړين وي کم اوسي هغومره زياته ګټه ترلاسه کوي.

# د نړيوالي تبادلي قانون:

د ميل په اند تبادله د هر هيواد د صرفه جويي ضامنه ده خو اندازه يي معلومه او ټاکلي نه ده ميل وايي د هر وارد سوي توکي ارزښت د هغه په مقابل کي د صادر سوو توکو د اندازي له مخي سنجول کيږي نو پدي توګه د نړيوالي تبادلي قانون په عرضه او تقاضا متکي دي.

هر کله چي په بهر کي د سوداګر توکو ته تقاضا زياته سي ګټه هم ورسره زياتيږي.

بله موضوع چي د ميل مخته راغلل هغه د غريبو او شتمنو هيوادونو د ګټي پرتله وه .

# د میل ټولنیزه او انفرادي مختلطه برنامه:

ستوارت میل د ټولنیزي کړنلاري لپاره یو پراخه پروګرام عرضه کړ چي په درو مادو کي یي خلاصه کولاي سو:

1. د تعاوني(ټولنیز) شرکتونو په وسیله د مزدوري ترتیب ورکول.
2. پر ځمکو د مالیاتو اچولو په وسیله د مالکانه حاصلاتو ملي کول.
3. د میراث د قانون د ایسته کولو په وسیله مالي افراط او تفریط له منځه وړل

# د نيو كلاسيک مکتب رامنځته کيدل:

نيو كلاسيک مکتب د كلاسيک مکتب د ځينو مشكلاتو او د پوهانو په ځينو برخو كي د اختلافاتو له امله رامنځته سو.

# د نهایونو انقلاب:

د نیو کلاسیک مکتب رامنځته کیدل د نهایونو (Marginalists)له نظریاتو پیل سو.

د نهايي ارزښتونو د نظريي بنسټ ایښودونکي په ۱۸۷۰ کلونو کي عبارت دي له:

- په اتریش کي کارل منګر
- په انګلستان کي ویلیم ستېنلي جونز
- په سویس کي لیون والراس

# ادامه...

دوي د داسي مکتب بنسټ ایښودونکي دي چي د اقتصادي نظریاتو تاریخ کي په دوه نومونو یاد سوي:

1. نیو کلاسیک مکتب دا نوم ځکه ورکول سوي چي ددوي نظریات د کلاسیکو افکارو زیږنده دي.
2. نهایون دا نوم ځکه ورکول سو چي د دوي د پاملرني وړ موضوع د نهایي مطلوبیت او د اقتصاد په علم کي د هغي کارول وو.

# د نهايي نظر مرحلي:

نهايي نظر په دوو مرحلو کي رامنځته سو:

1. لومړي مرحله: چي د کارل منګر په نظرياتو پيل سوي او ۱۹مي پيړي۷۰ - ۸۰ کلونه په بر کي نيسي چي:

کارل منګر

ويليم ستينلي جونز

او ليون والراس پکښي شامل وو.

# ادامه...

2. دویمه مرحله: دنهايي نظر دويمه مرحله د نيو کلاسيک مکتب رامنځته کيدو سره بدرګه سوه چي ځيني نامتو اقتصاد پوهان يي عبارت دي له:

1. انګليسي اقتصاد پوه الفرد مارشال
2. ايټاليايي اقتصاد پوه پريتو
3. امريکايي اقتصاد پوه کلارک

# د نیو کلاسیک اقتصادي نظریات:

**د ارزښت تیوري:**

1. د جونز نظریه د تبادلي ارزښت په اړه:

جونز عقیده لري چي د تبادلي ارزښت په افادي(مطلوبیت)پوري تړلي دي دکار ارزښت او د هغي اغیزي په عرضه باندي چي ادم سمیت،مارکس او ریکاردو یي د مستقیم رول لوبونکي ګڼي د جونز په اند غیر مستقیم رول لوبوي د جونز په اند:

د تولید لګښتونه د توکو عرضه ټاکي د توکو عرضه نهایي افاده ټاکي او نهایي افاده د تبادلي ارزښت یا قیمت ټاکي .

# ادامه...

دده په اند د هر توکي لپاره د اړينو پيسو نهايي افاده MUm د هغه توکي د نهايي افادي او دهغي د قيمت دنسبت سره برابر دي:

$$MUm=MUa/Pa$$

# کارل منګر ۱۸۴۰-۱۹۲۱ :

منګر د اتریشي مکتب بنسټ ایښودونکي دي نوموړي د اقتصادي اصولو تر عنوان لاندي کتاب کي چي په ۱۸۷۱ کي چاپ سو په اتریش کي یي د نهایونو انقلاب رامنځته کړ دا کتاب د نهایي ارزښتونو په اړه د نظریاتو اساس وګرځید.

# ادامه...

منګر عقیده لري چي د مجموعي افادي د نظر اساس دري فرضيي دي:

1. دا چي افاده په اصلي عددونو اندازه کیږي چي Utils يي واحد دي.

# ادامه...

2. مصرف کوونکي د یو معلوم واحد د اضافي واحد استعمال سره د هغه واحد نهايي افاده کمیږي تر څو چي صفر ته رسیږي چي دیته د نهايي افادي د کموالي قانون وایي .

# ادامه...

۳ :د نهايي افادو د جمع حاصل مجموعي افاده په لاس راکوي.

داسي چي:

$Uxt= f(x1)+f(x2)......+f(xn)$

د نهايي نظريي له مخي لوړي افادي د تامين کوونکو توکو او خدماتو ترکيب هغه ترکيب دي چي د نهايي افادي او قيمتونو نسبت برابر وي.

$U1/P1=U2/P2=U$

# لیون والراس ۱۸۳۴-۱۹۱۰ :

د ارزښت نظریه: د یو توکي کم ارزښت(قیمت) د عرضه کوونکو لخوا توکو ته ورکړل سوي ارزښت دي.

په کوم قیمت سره چي عرضه او تقاضا برابریږي نو متوازن قیمت رامنځته کیږي که چیري عرضه او تقاضا برابره نه وي نو هر کس د خپلي ګټي په لیدلو سره دي جریان ته دوام ورکوي او په پایله کي د توازن قیمت ته رسیږي.

# د نهايي نظرياتو دويمه مرحله:

د نهايي نظرياتو دويمه مرحله کې الفرد مارشال ،کلارک او فريتو شامل دي او دي دوري ته يې پراختيا ورکړي .

# الفرد مارشال۱۸۴۲-۱۹۲۴ :

الفرد مارشال په داسي وخت کي اقتصاد ته داخل سو چي کلاسیک نظام خپل پیروان له لاسه ورکول.

نوموړي د نیو کلاسیک د پیاوړي غړي په ډول په ۱۸۹۰ کال کي د اقتصاد اصولو تر عنوان لاندي کتاب نشر کړ چي خپل په کتاب کي یي د نهایونو اصول د کلاسیکو اندیشو ځاي نیونکي کړ.

دي په ۱۸۸۵ کال کي په کمبریج پوهنتون کي د فروفیسور په توګه وګمارل سو چي همدا یي د کامیابي لامل وو ځکه دي پوهنتون د ارتورپیګو او کینز په څیر اقتصاد پوهان روزلي وه .

# د مارشال اقتصادي نظرونه:

د مارشال د اقتصادي اصولو په کتاب کې څلور نظرونه تر سترګو کيږي چې عبارت دي له:

1. د تقاضا نظريه
2. د عرضي نظريه
3. د تبادي د ارزښت نظريه
4. د ملي عايد د ويش نظريه

# د تقاضا نظریه:

په دي نظریه کي مارشال د مصرف کوونکي سلوک د افادي له روش څخه په ګټه اخیستني سره بیانوي.

لومړي په دي نظریه کي فرض کیږي چي افاده د مصرف کوونکي لپاره د توکو د استعمال څخه ترلاسه سوي رضایت سره د اندازي وړ ده.

دده په اند د توکو قیمت د هغه توکي د نهایي افادي په مرسته ټاکل کیږي .

# ادامه...

مارشال د تقاضا تحلیل په لاندي ډول سره کړي:

1. د هر توکي نهایي افاده باید د Utilsپه واسطه اندازه ګیري سي.
2. هر څومره چي په یو شان شرایطو کي مصرف کوونکي د معلوم توکي اضافه واحدونه خریداري کړي د یوي معلومي کچي د مصرف وروسته د مصرف په زیاتیدلو سره نهایي افاده کي کموالي پیل کیږي چي دا په حقیقت کي د نهایي افادي دکموالي قانون دي.
3. د مجموعي افادي معادله د انفرادي معادلو د جمع څخه لاسته راځي.

# ادامه...

د مارشال له نظره د مصرف کوونکي د تعادل شرط:

MUm=MUx/Px

مارشال د تبادلوي ارزښت په جوړولو کي د تقاضا منحني د کميدونکي افادي اصل وټاکه او عرضه يي د لګښت تابع وبلل.

دده په اند د بازار قيمت په لنډ مهال کي تر ډيره د تقاضا تابع او په اوږد مهال کي تر ډيره د توليد د لګښتونو(عرضي) تابع دي.

# دعرضي نظریه:

په دي نظریه کي مارشال د تولید کوونکي سلوک د لګښتونو له روش څخه په ګټه اخیستني سره بیانوي.

د هر تولیدوونکي یا تولیدي واحد اصلي موخه د ګټي اعظمي حد ته رسول یا اصغري حد ته د زیان کمول دي.

# ادامه...

الفرد مارشال د عرضي نظريه په مکمله توګه د تولید د لګښتونو د نظريي په واسطه بيانوي.

دده په اند تولیدوونکي تر هغه وخت پوري تولید ته ادامه ورکوي چي د تولید لګښت د قیمت سره برابر سي (P=MC)کله چي قیمت د تولید د لګښتوونو سره برابرسي نو پدي حالت کي عاید هم لوړ حد ته رسیږي نو ويلي سو چي:

P=MC=MR

# ادامه...

الفرد مارشال د کرني په برخه کي داسي مثال ورکوي:

که ځمکه ثابته په نظر کي ونيول سي او دکار يا پانګي په مقدار کي زياتوالي راوستل سي نو تر يو حده پوري په حاصل کي زياتوالي راځي او د عواملو په نور زياتوالي سره په متوسط حاصل کي کموالي راځي چي ورسره نهايي حاصل هم په تيزي سره کموالي کوي.

# د تبادلي د ارزښت نظریه:

دالفرد مارشال په اند د تبادلي ارزښت په دریو شیانو پوري تړلي دي :

1. تقاضا
2. عرضه
3. وخت چي اصلا تقاضا او عرضه هم د وخت تابع ګڼي.

# ادامه...

د نوموړي په اند عرضه او تقاضا د قیمت په ټاکلو کي د قیچي ددوو لورو په څیر دي **وخت:** د نوموړي په اند هر څومره چي وخت کم وي هغومره تقاضا په قیمت زیات تاثیر لري او هر څومره چي وخت زیات وي هغومره عرضه په قیمت زیات تاثیر لري .

# د ملي عايد د ويش نظريه:

د مارشال د ويش نظريه په حقيقت کې د توليد لاملونو د قيمت ټاکلو په خاطر د هغه د ارزښت د نظريي په کار وړل دي.

د توليد د لاملونو د قيمتونو چې د هغوي د عرضې او تقاضا په اساس په بازار کې ټاکل کيږي په حقيقت کې د توليد لاملونو په کار ګمارونکو لګښتونه دي.

د توليد د لاملونو لګښتونه د عايد له اړخه د هر لامل لپاره د عايد په توګه انتقال کوي

# نهايي حاصل او کار ته د توليدي واحد تقاضا:

د مارشال په اند عرضه کوونکي يا هم توليدي واحدونه په بازار کي د کار قوي داسي تنظيم کوي چي نهايي حاصل د کارکوونکو د قيمت سره مساوي سي يعني:

$$PL = MPL \times Px$$

# د استخدام کچه او د قیمت ټاکل:

په بازار کي د مزد د کمیدلو په صورت کي تولیدي واحد د خپلي ګټي د زیاتوالي په خاطر په استخدام کي زیاتوالي راولي او په بازار کي د مزد د لوړیدو په صورت کي تولیدي واحد د خپل تاوان د کمولو په خاطر په استخدام کي کموالي راولي.

# د مارشال د نظریاتو د لوي اقتصاد اړخ:

مارشال د لوي اقتصاد برخي ته زياته پاملرنه نده کړي خو يوه موضوع چي اشاره يي ورته کړي هغه پيسي دي:

دي د پيسو مقداري تيوري پوري د پيسو ارزښت تړي چي په بازار کي د پيسو کموالي او زياتوالي د پيسو ارزښت ټاکي.

# د نيو كلاسيک د توزيع تيوري:

د يو لامل له خوا دنهايي عوايدو زياتوالي او د هغه لامل د يو واحد په زياتوالي سره ددي لامل لخوابرابر سوي حاصل دبازار د ارښت سره برابر دي

# د نیو کلاسیکو د پیسو تیوري:

د نیو کلاسیکو د پیسو تیوري لکه څنګه چې الفرد مارشال ورته اشاره کړي د پیسو مقداري تیوري ده.

# د نیو کلاسیک د بهرني سوداګرۍ نظریه:

د نړیوالي تبادلي حدود او د متقابلي تقاضا د مارشال او اویجورت په واسطه روښانه سول.

د نسبي لګښتونو په ځای د شریکي ګټي او تولید امکاناتو د منحني په مرسته د کار نړیوال ویش او د سوداګري حدود روښانه سول.

او یوازي د کار په مرسته د لګښتونو سنجولو نیمګړتیا له منځه لاړه .

د ځېرکي پاي.